

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# د وبا ورځو کې مينه

## (ناول)

ليکوال: محمد احسان علي شفيق

## کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: د وبا ورځو کې مينه
ليکوال: محمداحسان علي شفيق
اړيکې: ۰۰۹۳۷۷۰۸۵۹۰۴۷
برېښناليک: shafiqmihsan@gmail.com
خپرندوی: شهباز خپرندويه ټولنه- جلال آباد
کمپوز: خپله ليکوال
ډيزاين: حزب الله شهباز ساپی
چاپ وار: لومړی
چاپ شمېر: (1100)
چاپ کال: 1399لمريز کال

د ترلاسه کولو پتې:
ارمان کتاب پلورنځی، ارزان قيمت کابل/ عتيق الله کتاب پلورنځی، لوګر
جديد اسلامي کتاب خانه، رڼا کتابخانه، ژوندون کتابخانه : خوست
يونېورستي بُک ايجنسي، خيبر بازار پېښور
پښتو اکېډمي بُک شاپ، پېښور يونېورستي: 03120094940
ثاقب پبلشرز، رحمت مارکېټ، عقب قصه خوانی، پېښور
فقير بک اېجنسي، قصه خوانی پېښور03469745863:
ژوند کتابپلورنځی : بي بي حوا عالي لېسې ته مخامخ
روغانيوال خپرندويه ټولنه؛ اسحاقزی مارکيټ، لاندېنی پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان. اړيکشمېرې:
0772994040 - 0787830302
شهباز خپرندويه ټولنه، بي بي حوا لېسې تر څنګ، حاجي زمان کوڅه، حاجي عظيم مارکېټ جلال اباد ښار
0797920008 /0776920008 /0787886816

د چاپ حقوق له خپرندويه ټولنې سره خوندي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د تکړه انګرېزي لیکوال، جارج آروېل نوښتګرو لیکلو او د بي بي سي تلوېزیون او راډیو، د پښتو برخې تکړه ژورنالیستې آمان الله عطا ته!



# ټرون

د نقیب وزیري په نوم، چې یو ښه دوست دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا تضاد ...

خدای پاک په قرانکریم کې فرمايي:

فَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا. (الم نشرح ـ پنځم آيت)

ژباړه: نو بېشکه، له سختۍ سره آساني شته.

د همدې خبرې په تعقيب، هر څه تضادونه او مخالف لورى لري. دا کيسه هم همدا ډول ده، د دې کيسې مرکزي کرکټر او ځينې فرعي کرکټرونه کله، کله د کيسې په جريان کې له داسې شيانو سره مخ کېږي او يا پخپله ځان ورسره مخ کوي، چې له روانو حالاتو سره ببخي مناسب نه وي او په بله وينا، ببخي د طبيعت له حاکم وخته د بغاوت او سرکشۍ په معنا دي.

خواږه او ترخه د ژوند دوه مختلف اړخونه دي او په وخت، وخت خپل ځانځرګندونه کوي؛ خو په يوه وخت د دواړو څرګندېدنه؛ په زړه پورې، کمسارې او حيرانوونکې ده.

د دې ليکنې د تسمېې وجه هم همدا ده.

کله مې چې د شوروي سره ښکېلاک په اړه وليدل، واورېدل او ولوستل؛ نو فکر مې وکړ، چې دا داسې پېښې دي، چې ليکل بايد په وشي. زه ډېرى وخت د جدي مسايلو په اړه د پرېکړې په مهال له ډېر احتياط نه کار اخلم او يا ببخي بې تفاوته پاتې کېږم.

کېدى شي د دې ليکنې ځينې برخې داسې درته وښکارېږي، چې د يوه ژورنالېسټ او بې تفاوته قلم په نوکه ليکل شوې وي.

ما چې دا ليکل کول؛ نو دا خبره مې د قلم په پمپ کې پېچکاري کړې وه، چې افغانستان د تيوريو وطن دى او توطې په ځوځو کې د اور په ډول پکې خپرېږي؛ نو ځکه زه ډېر محتاط پاتې شوى يم. دا يوه تاريخي ليکنه ده او په دې ډول ليکنو کې بايد حقيقت رانغښتل شوى وي، ګوندي، مذهبي او قومي تلنې بايد له ميانه وويستل شي، فقط ليکل وشي او لوستونکى د قاضي په ډول راوړاندې شي؛ خو تر ټولو مهمه دا ده، چې مذهبي ارزښتونه بايد تر پښو لاندې نه شي؛ ځکه چې په همدې آساس موږ وګړي بېلوو او وګړي موږ بېلوي.

دا زما د داستاني ليکنو د لومړۍ شمېر ليکنو څخه يوه ده؛ خو تر ټولو لومړۍ هغه ده چې چاپ کېږي. ما د ښوونځي له وختونو فکر کاوه چې د کيسو د چاپ لپاره مې هلې ځلې پيل کړې دي؛



خو ورځې د هغو خلکو په څېر وې، چې بې وفا دي. وخت به تل زما سترګې راپټولې؛ خو وروسته زه د هغه په غولونې وپوهېدم او د داسې يو چا په ډول مې د ځان د راڅرګندولو هڅه وکړه، چې د يوه منظم مهال وېش په آساس په خپلو کارونو پسې ځغلي او کيسه ليکنه مې له هغو هدفونو غوره کړه، چې په ژوند کې مې لرل او اوليت مې ورکړى وو.

زه تل غواړم د ښو شيانو د ليکلو هڅه وکړم. نه پوهېږم، زما ليکل به څومره ښه وي؛ خو زه يې تل د ښو ليکلو هڅه کووم.

زه له خپلو ليکلو سره هغه ډول مينه لرم، لکه يو پلار يې چې له خپلې لور سره لري.

دا کيسه له زړه ليکل شوې ده او د خداى (ج) په رضا به زړونو ته کښته کېږي.

د طبيعت د هغه دود په اساس (چې لومړني شيان خامخا ستونزې لري.) زما دا ليکنه به هم ستونزې ولري؛ خو تاسو هغو ستونزو ته د يوه پاخه نقاد په سترګه مه ګورئ، بلکې د يوه ښه مشوره ورکوونکي په ډول هغه وګورئ!

خپلې ښې مشورې مو مه سپموئ او له دې نيمګړي انسان (ما) سره مرسته وکړئ، تر څو راتلونکې ليکنې اصلاح کړم.

په اخره کې له ښاغلي مبارک شاه داوودزي او کمال اوبرنګ حيدري نه مننه کووم، چې د کتاب له چاپ وړاندې يې نېکې مشورې راکړې وې.

ځينې خلک به زما له مرګه وروسته
زما په شعر باندې وايي ايرادونه
ښايي ځينې په دې پوه شي، چې په خوله مې
ظالمانو لګولي وو مُهرونه

(سليمان لايق)

محمد احسان علي شفيق
د ننګرهار پوهنتون مرکزي ليليه، B بلاک

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مور ته مې ووایئ !

ډېره حیرانوونکې ده چې ووایم، هغه څنګه په ډاروونکې بڼه خپله ژبه راایستلې وه او سترګې یې سپینې اوښتې وې. پښې یې په هـوا کې زنګېدې او څېره یې سپینه ګرځېدلې وه. هغلته مرګ سخت نه وو؛ خو د نوعیت په اړه یې فکر تر ټولو ځوروونکی وو. ما په ډېره سړه سینه او آرامو مغزو د ایتماتوف راځوړند جسد ته لیدل: هغه د ډېر جبر او فشار کیسه کوله.

افغان ملګري وویل: دغه یو ساعت مخکې هغلته په یوه ګوښه کې ناست وو.

ما وویل: مړی راکښته کړئ او له تشنابه یې راوباسئ!

عسکرو لـه تیرانـو پـړی راخلاصـاوه، زه راووتـم. د پېښې پـه اړه مې فکـر کاوه: څنګـه یـو ځـوان سرتېری له هغو ټولو هیلو سره، چې لري یې ځان راوځړوي؟ خو په عین حال کې مې فکر کاوه چې دا یوه معقوله او په ځای پرېکړه وه. په دغه ځوروونکې جغرافیه کې د هرې ځوړونکې شېې په پرتله مرګ ډېر آسان وو؛ خو څنګه مور منلې وی چې دا یوه ځان وژنه ده؟

پوسته کې یوه وژونکې خاموشي مسلطه وه. خپلې کوټې ته لاړم، کېناستم او فکر مې په کار واچاوه. ډېر احتمال د دې دی چې افغان ملګرو دې هغه وژلی وي؛ خو هیڅکله ما د خپلو عسکرو داسې سلوک نه وو لیدلی چې له یو بل سره یې د کرکې بڼه لرله. ما د ده په وړاندې د یوه لوی مسوولیت احساس کاوه او هره شېبه د حقیقت د میندلو په لټه وم.

خپل عسکر مې راوغوښتل او ومې پوښتل: وروستی وار ایتماتوف چا او چېرته ولید؟

افغان ملګري(فکر کووم نوم یې حبیب وو.) وویل: د موټر ټایر ته یې تکیه وهلې وه، ما د ورنږدې کېدو هڅه ونکړه... شوروي ملګري، الکسي یې خبره ورپرې کړه او ویې ویل: صاحبه فکر کووم له پرون راهیسې په یو څه پسې ګرځېده. ټولو ملګرو ته معلومه ده چې له هغه نه پوښتل؛ د وخت ضایع کول دي؛ نو ځکه ما هم ونه پوښت او فکر کووم له ما نه به وروسته هیچا هم نه وي لیدلی؛ هر کله چې هغه تشناب ته ننوت، ما ولید.





ما وویل: ښه، ښه څو بجې دې ولید؟

ـ صاحبه نهه بجې به وې.

ـ یعنې یو ساعت وړاندې. له هغه سره څه شی وو؟

ـ نه، تش لاس وو.

ما وویل: سمه ده، لاړ شئ؛ خو هر څه ته فکر کوئ! جدي.

لـه تشـریفاتو وروسـته ووتـل. مـا فکـر کاوه او تقریباً دغې پرېکـړې تـه نـږدې شـوی وم چې ووایـم (ایتمـاتوف ملګري پخپلـه ځـان وژلی.) هغـه یـو آروایي نـاروغ وو او مـور ټولـو د ده دغـه سـتونزه درک کوله. له هیچا سره د قانوني خبرو د باندې نه ووت. ټولو عسکرو په (قانوني) باله. د دغه نوم په اورېدو به له ځان سره وډونګېد؛ خو کوم عکس العمل به یې نه ښود. هیچا هم د ده په شـونډو مسـکا نـه وه لیـدلې، تـل بـه یې شـونډې چـاودې او تنـدی ګـونځې وو. آروایي نـاآرامي تـر وروسـتي بریـده رالانـدې کـړی وو. د ۱۹۸۶ پـه ژمي کې(چې یـو کـرکجن موسـم وو او سـړي تـه یې ډاروونکي خیالونه په ذهن کې ورګرځول.) مور ټولو ولیدل چې هغه ځان ته د پوستې د یواځیني حمام په تیرانو کې پړی راځوړند کړی وو او ساه یې بنده کړې وه.

زمور په ټولو عسکرو دغې پېښې یوه ډېره بده آغېزه وکړه؛ خو تر ټولو زیات چې څوک آغېزمن شـو، هغـه الکسي وو. مـا هغـه څـاره، هـر کلـه یې چې د ایتمـاتوف راځوړنـد جسـد او راوتلې ژبه ولیده؛ څېره یې سپینه واوښته او یوه مړي ته ورته شوه. له هغې ورځې وروسته مې ځانګړی پام په ساته او له کلکې څارنې لاندې مې نیولی وو.

مور ماښام مهال د ایتمـاتوف ملګري بستره ولټوله، هغـه یـو وصیت لیـک لیکلی وو او بیا یې لـه بالښـت لاندې ایښی وو، هغـه فقـط دومره لیکلي وو: (لطفاً مـور تـه مې ووایئ چې د یوه آتل پـه توګه مړ شو.)

دا ډېـره دردوونکې وه. مـور پـه افغانسـتان کې داسـې ډېـرې پېښـې لرلې؛ بایـد ووایـم چې پـه افغانستان کې هر څلورم وژل کېدونکی شوروي د دښمن له لوري نه؛ بلکې خپل منځي ډول وژل کېده. ما مخکې هم وویل چې ځوانکی ایتمـاتوف لـه قـانوني او عسـکري خبرو د بانـدې نـه ووت. یوه ورځ چې مور ستړي وو، هغه وپوښتلم: مور له چا سره جګړه کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه لږه شبهه غلی وم او بيا مې ويلي وو: موږ د هغه چا خلاف جګړه کوو چې د لويې شوروي خلاف جنګېږي او انقلاب ته ګواښ پېښوي.

هغه ويلي وو: نو انقلاب ته څوک ګواښ پېښوي؟ آيا دا هغه افغانان نه دي چې موږ يې څنګ تر څنګ د دوی د ساتنې او ښېګڼې لپاره جنګېږو؟ په کوم اساس موږ کولای شو هغوی سره بېل کړو؟

هغه ريښتيا ويل؛ موږ څنګه کولای شول اوږه او مالګه جلا کړو؟ هر وخت به مو ګوتې په ماشو وې. موږ نه پوهېدو چې څوک موږ ته خطره پېښولی شي، موږ نه پوهېدو چې څوک زموږ ملګري دي؟ يواځې مو د خړو درېشيو او پټکيو په اساس نه شول سره بېلولی، کنه له موږ نه خو کرکه د ټولو په سترګو کې بربښېده. ما د هغه د پوښتنې په ځواب کې ويلي وو: هر وخت ګوته په ماشه نيسه! هر کله دې چې له چا کرکه احساس کړه او وپوهېدې چې د څه (بدو) پلان لري؛ نو مخکې له دې چې څه درپېښ کړي، اوسپنيزه مرمۍ يې له سينې وروباسه او وروښيه چې د شوروۍ مور شودې مې رودلې دي او هيڅکله چا ته سر نه ټيټوم... خو اوس موږ ايتماتوف نه لاره.



# راځه، راتلونکی بدل کړو!

آپرېل، خوږه هوا؛ خو موږ د جګړې بوی سږمو ته تېراوه او د بارودو لوګي مو تنفس کول. موږ قندهار ښار ته څېرمه په يوه وړه پوسته کې خپل لومړنی افغاني پسرلی لمانځه. تر دې وړاندې چې افغانستان ته راشو؛ فکر مو کاوه چې د دغه هيواد شنې درې، پراخ ډاګونه او لوړ غرونه به راته د مينې او ورورګلوۍ غېږ پرانېزي؛ خو داسې نه وه، دغو ټولو شيانو موږ ته په کرکه کتل او په تحقيروونکې بڼه يې په موږ پسې چغې وهلې: (زموږ له هيواد نه ووځئ!) موږ غوږونه کڼول او هڅو ته مو دوام ورکاوه، چې د جګړې بڼه يې لرله؛ سخته او ښکاره.

د همدغه آپرېل په منځ کې په يوه واړه کلي کې عمليات پلان شول. آشرارو دولت ته سرخوږی پېښاوه او بيا به د همدغه کلي په کورونو کې پټ شول. په قوي ګومان دوی د همدې کلي اوسېدونکي وو. موږ عمليات د شپې پلان کړل او سمدستي په دوو زغره والو ګاډو او دوو ټانګونو کې د کلي په لور وخوځېدو. موږ د دغه ښار جنوب لوري ته تلو. له ښار نه وژونکې چوپتيا غېږه راچاپېره کړې وه او د ګونډ حاکميت براعلی چغې وهلې. دا تاريخي ښار(چې د ډېری افغان شاهانو ټاټوبی ياد شوی.) اوس د جګړې لمبو رانغښتی وو او د دغه ښار تياره آسمان د نورو کېدونکو پېښو ليدونکی وو. آن له افغاني اسمانه هم د جبر او ظلم بوی راته. هر څه روحانيت ته عقيدت درلود او دا ټولنه په يوه بې بنياده روحانيت او منځ تشو نظريو ولاړه وه.

غوښتل مې په دې بې پايه تياره کې چغه کړم چې اې تاريخي ښاره او د برم کلاګانو! خپله آرته غېږه راټوله کړئ او موږ ته د آرامۍ او سکون يو خوب راکړئ؛ خو وېرېدم، هسې نه چې زما چغو ته غوږ ونه نيسي او راته ووايي چې ته د دې ځيږې خاورې لياقت نه لرې! ما هره شېبه دوه سترګې خلاصې او ګوته په ماشه ساتله؛ ځکه په دې خاوره کې هر وخت د هر څه د پېښېدو امکان وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورو، ورو د شپې په لکۍ پسې تړلی لمر د قندهار ختیځ ته راپورته کېده، سپېدې چاودلې او موږ خپل منزل ته رسېدلي وو.

موږ فکر کاوه چې زموږ د ژوند ترخه شپه به هم همدا ډول لمر ته ځلېږي او ژر به د روښانه سباوون بڼه خپلوي؛ خو موږ نه پوهېدو چې زموږ د بدمرغۍ شپې د طبیعت د شپو په پرتله ډېرې اوږدې دي. د تیارو له اسارته خلاص سباوون د آشرارو او د کورنیو سترګې ورپرانیستلې او یو نوی ګهیځ پیل شو؛ خو دا ځل بېل ګهیځ وو، په هغوی زېری وشو چې محاصره دي او باید خپل ټوپکونه کښته کړي. زموږ عسکرو په پرلپسې ډول په لاوډسپیکرونو کې نارې وهلې او آشرار یې تسلیمۍ ته رابلل. هغوی تازه، تازه د اعضاوو د مینځلو لپاره راپورته شوي وو. د هغوی په بدن کې داسې روحانیت نه وو پیچکاري شوی چې د شا ته تللو لاره دې وروښیي. د ټوپکونو نلونه یې زموږ په لور راواړول او له خپلو مورڅگارونو یې ډزې راپیل کړې؛ له دې سره د ګهیځ سخته جګړه پیل شوه او په کوچني کلي کې د لمر هرکلی په ډزو وشو. موږ محاصره تنګوله او له تعرضي ډزو سره وړاندې تلو. زه له خپلې لومړنۍ ډلې سره د متقابلو ډزو د منبع په لور ورنږدې کېدم، نورو افغاني او شوروي ملګرو پوښښ راکاوه. ټانګونه هم فعاله وو او د لاسي بمونو کیلیانې هم په مځکه لوېدې. موږ له هر څه سره، سره په دې تمه وو چې آشرار به مقاومت پرېږدي او ټوپکې به په مځکه وغورځوي؛ خو موږ تېروتلي وو. په هغوی مو محاصره ورتنګوله او دا خبره نوره هم ورته روښانېده چې مرګ یې رانږدې شوی دی. په زړونو کې د آزادۍ هیلو په سرو سکروټو کېنولي وو او د لېونیو غوندې یې بې سره او بې پښو ډزې کولې. هره خوا مرمۍ ورېدې او په شاوخوا کې سرې لمبې خوتېدې؛ دا د افغانانو د جګړې یو تصویر وو...

خو موږ وړاندې تلو او په یوه جاغور پسې مو بل تشاوه. موږ له خوبه د تازه راکښېناستلو ماشومانو او ځناورو وارخطا چغې اورېدلې، چې د جګړې روان حالت ته یې یو ځانګړی میوزیک جوړاوه. افغانان یو په بل پسې لګېدل او په مځکه لوېدل؛ خو زموږ مسلکیان د جګړې په ځغلولو پوهېدل او کم تلفات راووښتل...

یوه شېبه ډزې ورو شوې او ودرېدې. موږ ټول دفاعیان وژلي وو او د هغو کلاګانو دروازې مو ورماتې کړې، چې افغاني غرور وزر په غوړولی وو. له کاره وتلي سپین ږیري، ښځې او واړه پاتې وو. د ټولو په سترګو کې یوه خبره لوستل کېده: زموږ له هیواده ووځئ، تاسې یرغلګري یاست!





موږ په یوه واړه او زاړه کور ورننوتي وو. یو ملګري مو وویل: اوففف دلته د اوزو څه بد بوی دی! ټوپکونه مو مخامخ نیولي وو او هره شېبه دې ته تیار وو چې ډزې وکړو. موږ باید په همداسې یوه چاپېریال کې(چې د کورونو بامونه یې رانړېدلي وي او هره خوا لمبې بلې وي.) ډارېدلي وی. دغه کور دوه د اوسېدو خونې او یوه د اور کوټه(آشپز خانه) لرله. د اوسېدو د یوې خونې چت رانړېدلی وو او لا یې هم د بارودو بوی ته. د اور له کوټې د سوځېدلو غوښو بوی راغی، له خپلو عسکرو سره ورتاو شوم. موږ هلته ولیدل، چې یوه ځوانه ښځه څو ډزه په ملا لګېدلې وه او په بل نغري (چې لویه مسي چایجوښه پرې ایښې وه.) وررنګه وه. اوس موږ کولی شول د هغې د غوښو د سوځېدلو غږ هم واورو، چې دا یو کم یافته میوزیک وو. د هغې یوه پښه تر زنګانه له شکېدلي پرتاګه راوتلې وه. ما هغه ونه لیدله خو آندامونه یې د نارینه وو په څېر وو. د ښځې په ملا باندې رارو انو وینو (څومره چې کولی شول) د هغې پلاستیکي بوټونه ډک کړي وو. زه یوه شېبه غلی ولاړ وم، بیا مې له ځانه وپوښتل: آیا دا ریښتیا یوه په اصولو ولاړه جګړه ده؟ عسکرو ته مې وکتل، کېدی شي هغوی ته هم په زړونو کې یو شی ورګرځېدلی وي. ما فکر کاوه چې د هغوی په زړونو کې به د لطافت سمندرونه ایشي؛ خو داسې نه وه، د جګړې اور هغه وچ کړي وو.

زه یوه شي ولړزولم، یوه تقریباً دیارلس کلن ماشوم له تناره نه سره راپورته کړ. جړ وېښته، غنمرنګ پوستکی او برګې سترګې یې لرلې؛ ډېره ګرانه وه چې پوهېدلي وی، هغه په داسې وخت کې څه غوښتنه لرله؟

هغه د خپلې مور بې روحه جسد لیده او د هغې د غوښو د سوځېدو غږ یې هم اورېده. کېدی شي په همدې دومره تنګه موده کې هغه د خپل تیاره راتلونکي په باره کې فکر کړی وي او د بې پلاره او بې موره ژوند راتلونکې ترخې شېبې یې تصور کړې وي. کېدی شي ما فکر کړي وي چې ورشم له لاسه یې ونیسم، له تناره یې راوباسم او ورته ووایم چې راځه، راتلونکی بدل کړو!... خو زموږ پاتې کېدل هلته مشکل وو. د نورو کوټو د لیدلو لپاره راووتو او ماشوم مو له خپلو ټولو هغو هیلو سره (چې لرلې یې) پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ عسکرو ډزې کولې او د لاسي بمونو د ډزېدو غږونه هم راتلل؛ موږ په همدې غږونو کې ورک وو چې یو ناڅاپه د تناره له کوټې ضربه وشوه.
موږ د ځانونو د دفاع لپاره یو کونج او بل کونج ته منډې کړې. زموږ یو شین پوښی عسکر په انګړ کې پروت وو او دژوند وروستی سلګۍ یې وهلې. هغه د اوبو غوښتنه کوله؛ خو موږ د هغه دغه وروستی غوښتنه نشوه ورپوره کولی؛ یواځې دومره مو ویل: وزغمه!
(لاسي بم وغورځوه!) ما مې عسکر ته امر وکړ. هغه بم وغورځاوه، د تناره د کوټې بام ولړزېد او د یوه تازه ځوان شوي هلکي د درد کړیکه مو واورېده. د تناره کوټه په لوګیو کې پټه وه او شاوخوا یې نوره هم داسې ښودله چې په جګړه کې ښکېله ده او ځپلې ده. آرامي خپره شوه؛ خو فضا له دوړو ډکه وه او د روانې جګړې کیسه یې کوله چې څومره خطرناکه ده او څومره بد عواقب لرلی شي.
موږ د ماشوم زړورتیا او په هغه کې د غچ د راپارېدلي احساس عملي بڼې ته حیران وو؛ دا په ریښتیا سره حیرانوونکې وه. موږ دوه عسکر د مړي سمبالولو ته پرېښودل او خپله زه د نورو کوټو د لیدلو لپاره روان شوم. زه له خپلو عسکرو سره یوې کوټې ته ننوتم. کوټې ته له بهره لوګي راننوتي وو؛ خو روښانه وه او موږ لیدل چې په کوټه کې څه دي؟ د کوټې له منځه د یو ماشوم د ژړا غږ راته، هغلته په تیرانو کې زانګو راځوړنده وه او ماشوم ترپکې پکې وهلې. دومره د یادولو وړ پېښې څنګه په یوه وخت منځ ته راځي؟
ماشوم له وېرېدونکو غږونو وېرېدلی وو او مور یې غوښته؛ خو مور یې موږ انټرناسیونالېستانو وروژلې وه. ورنږدې شوم، لږ غلی شو؛ خو وروسته بیا ناقراره شو، ژړل یې او د ځان د خلاصولو هڅه یې کوله.
کرغېړنه جګړه؛ هغه وخت پیل شوې وه چې لا دا ماشوم نه وو زېږېدلی او د ده تر زېږېدو یا د ده د لمسیو تر زېږېدو یې دوام کاوه.
ما وویل: افغان ماشومه، موږ تا ته ښوونځی او سرک جوړووا!... هغه ژړل.
زما په زړه کې پرلپسې دا پوښتنې ګرځېدې(موږ په څه ډول یوه جګړه کې ښکېل یو؟ آیا دا ریښتیا یوه په اصولو ولاړه جګړه ده، که څنګه؟) ځواب مې نشو ویلی او د افغان ماشوم په زانګو مې لاس ایښی وو. هغه مو په زانګو کې پرېښود او په پوره احتیاط او بیدارۍ د غنایمو د ټولولو لپار وخوځېدو.



## دوارړو لوریو یوه، یوه خبره زده وه.

زما د لاس لاندې ډېر شمېر کسانو غاړو ته ټوپکونه اچولي وو. د ټولو پالل او ډوډۍ ورته رسول؛ دا زما په غاړه وو.
موږ تقریباً پنځه ساعته ټوپکونه او ټانګونه ډزولي وو؛ ستړي او وږي وو. لمر په نیمايي آسمان کې ځلېده او موږ د قندهار له خامه او خړو سرکونو پاخه سرک ته راپورته شوي وو. د جګړې ګرد مو په ځانونونو او موټرو احساساوه، آن ځینو خو کېدی شي په زړونو هم احساس کړی وي. روان وو او د خوړلو په باب مو فکر کاوه...
یو وخت مو له لرې په یوه رازوانه لارۍ سترګې ولګېدې. موږ پوهېدو چې لارۍ له خوراکي شیانو ډکه ده. موټرې مو ودرولې، زه له څو عسکرو سره راکښته شوم. کله چې لارۍ زموږ خواته راورسېدله، ومو دروله. افغانی موټروان مو په زوره ترې راکښته کړ. لارۍ له هندوانو ډکه وه. دوارړو لوریو یوه، یوه خبره زده وه. موږ ویل: راکښته کوئ یې!
افغان ویل: لطفاً بس دی، دا زما روزي ده، لطفاً نور بس دی، لطفاً دا زما د ماشومانو روزي ده، لطفاً!
زموږ عسکر لارۍ ته ورختلي وو او هندوانې یې د یو بل په مرسته راکښته کولې، ما ته هم هلته معلومه شوه چې یرغلګري یو؛ خو څه مو کړي وی؟ لوږه وه ، یواځې زه نه وم وږی، نور ډېر پوځیان وو چې معدې یې تشې وې او په تشه معده خو د افغانانو د انقلاب ساتنه نه شوه کېدی.
افغان کېدی شي د انټرناسیونالېسټ کمونېزم او هیومنېزم په باره کې فکر کړی وي او د هغه په باره کې یې بېلابېل شیان په ذهن کې ورګرځېدلي وي او هغه به یې له هغه څه سره پرتله کړي وي، چې د سترګو په وړاندې یې تېرېدل.
افغان موټروان ناهیلی تش موټر ته وخوت. د موټر ټایرونه کرار، کرار اوښتل او زموږ له سترګو پناه کېده. موږ د افغان هندوانې یو بل ته وېشلې او په دې ډول مو د افغانانو د انقلاب ساتلو ته انرژي برابروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کامي کازي په ډول

میلیونونه خلک د هغه چا له لوري کډوال شول، چې ویل یې ترقي پلوي دي. لکونه خلک د هغو خلکو له لوري ووژل شول، چې ویل یې د تعلیم او بیا رغونې پلوي دي؛ دا د وخت تېرېدل وو او د وخت تېرېدو سره شورویانو په افغانستان کې خپل اهداف او حیرانوونکې کړنې نشوی پټولی. افغانستان د سړې جګړې ډګر ګرځېدلی وو او په دغې جغرافیه کې ښکېلې ډلې ټپلې د بېلا بېلو شتمنو هیوادونو له خوا حمایت کېدې.

د جګړو په دوران کې له دوه میلیونه زیات خلک د نورو هیوادونو تر څنګ پاکستان ته هم مهاجر شول، چې په ۲۴۰ بېلا بېلو کمپونو کې په خېمو کې اوسېدل. د دغو مهاجرو ډېره برخه د پاکستان شمال او شمال ختیځو پولو ته نږدې ځای پر ځای شوې وه. تقریباً نیم میلیون مهاجر په بلوچستان او یو لک په پنجاب کې پراته وو. د مهاجرینو د نړیوالې اداري له لوري خورا ډېره مرسته پاکستان هیواد ته د دې لپاره ورکول کېده چې ورغلي مهاجر پرې وپالي؛ خو هغوی له دې مرستو ډېره بده استفاده کوله، څلورمه برخه یې هم افغان کډوالو ته نه رسېده. پاکستان له دغو پیسو نه د خپل پوځ په قوي کولو او افغاني مجاهدینو په روزلو کې کار اخیسته. هغوی یواځې له دغو پیسو دغه ګټه نه پورته کوله؛ بلکې د آمریکایانو له لوري ورسره مستقلې مرستې هم کېدې، چې بیا وروسته په مجاهدینو وېشل کېدې. د ملګرو ملتونو سازمان پاکستان هیواد ته د مهاجرو د روزلو لپاره په ۱۹۸۳ کال کې ۵۵۰ میلیونه ډالر ورکړل، یو کال وروسته مرستې ډېرې شوې یعنې ۶۰۰ میلیونو ډالرو ته لوړې شوې؛ بل کال ۱۰۰ میلیونه ډالر نور هم ورزیات شول. په افغانانو یواځې چینجن غنم او خوسا غوړي وېشل کېدل؛ خو د وسلو بازار ښه ګرم وو او رنګارنګ وسلې په پاکستاني بازارونو کې خرڅېدې. دغه بازارونه د پاکستان په





سرحدي صوبه کې(چې تقریباً ټول اوسېدونکي یې پښتانه وو.) په بېلا بېلو برخو کې جوړ شوي وو.

۳۶ مخالفې وسلوالې ډلې پاکستان روزلې، چې مرکزونه یې په کوټه، پېښور او (پخوانی قبایلي سیمه) پاړاچنار کې وو. دوی په هغو پیسو د افغانانو د تباهۍ لپاره روزل کېدل چې ملګرو ملتونو د افغان مهاجرو د روزلو لپاره ورلېږلې. پاکستاني مشرانو د دې له وېرې چې ور یې دښمنان ورټکوي؛ له افغاني مذهبي جنونیت نه ګټه پورته کوله او د خپلو ګټو لپاره یې عام افغانان د مذهب له نامه لاندې د جګړې په لومړۍ کرښه کې جنګول. دا خو څرګنده ده چې دا داسې وخت وو چې د شوروي د شهرت سرې څپې په نړۍ خپرې وې او سیالان له دغې خبرې ځورېدل. هغوی د کینې په اور سوځېدل او د شوروي بربادۍ ته یې مټې رانغښتې، هغوی هغه څه کول چې په وس یې پوره وو.

باید وویل شي چې د دغې جغرافیې شتمن روحانیون(چې د ډېرې جګړه ییزو ډلو مشران وو او په ټولنه کې د نفوذ خاوندان وو.) نفتیانو او آمریکایانو اخیستي وو. بد بختانه باید ووایم چې موږ دومره پیسې نه لرلې، هغوی واخلو...
په هر حال جګړه له وخت سره موازي روانه وه او نفتي شېخانو د افغان په جګړه تېل پاشل او د مخصوصو اسلامي برمونو ډېرېدو ته یې خلک رابلل. دا زموږ له راتلو د شپږو کالو د اوښتو خبره وه، هر څه بې پایلې ښکارېدل او هیچا نشول ویلی(څه پېښېدونکي دي؟)

افغانستان یوه معما وه؛ پېچلې معما، چې حل یې ډېر ګران وو، که ووایم ناممکنه وه، سمه ده. د آسمان شنه کېږدۍ د دې هر څه لیدونکې وه او په مځکه د جګړې او کرکې تور ګرد پروت وو. تنکي شوروي عسکران له آروایي ناآرامیو سره مخ وو هغوی په لړزېدلو ګامونو او تشو نسونو جګړې ته تلل. د ټوپکونو په ډزولو او د ټانګونو په ګرزا کې یو ډول بې خونده شیان محسوسېدل او هر څوک په نه زړه لګیا وو، چې جګړه مخ ته بوځي. زموږ ملګري باید په هر حال کې ثابت او محکم پاتې وی. باد، باران، واوره، توپان؛ دا هر څه باید موږ زغملي وی. موږ د یوې لویې آمپراتورۍ یوه وړه برخه وو او په کړۍ ییز شکل مو کار کاوه. هر ډول چې وي، موږ باید هغه څه کولی چې مشرانو مو راته ویل: هغوی ویل: مړه کړئ! مړه مو کړل. هغوی ویل: وژغورئ! ومو ژغورل. هغوی ویل: ووهئ! ومو وهل. موږ هغلته هر څه وکړل؛ خو باید ووایم چې له هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه متضاد وو چې موږ ته دلته (شوروي) کې ویل کېدل. موږ ته دلته ویل کېدل چې تاسو د افغانانو وروڼه یئ! د بیارغونې چارې به مخ ته وړئ او د عامه ځایونو ساتنه به کوئ!

موږ فکر کوو یو څه، یو ډول دي؛ خو کله چې د مسوولیت دروند بار زموږ په اوږو لوېږي، خبره سرچپه کېږي، همدغه شان ده؛ کله چې افغانستان ته راننوتو، هر څه بېل وو، نه د بیارغونې چارې وې او نه د عامه ځایونو ساتنه، فقط د انقلاب او شوروي د حیثیت ساتلو لپاره مو ډزې کولې، که په هره بیه وو. ډېر ځله مو بسته، بسته کلي بمبارول، عامه ځایونه مو سوځول. د هر څه له سلوکه د کرکې بوی راته. له هغو لومړنیو ورځو ما ته معلومه شوه چې د افغانستان شوروي کېدل یو خوب دی؛ ځکه چې دې جګړې سر او پښې نه لرلې او په ډراماتیکه بڼه روانه وه. موږ په جګړه کې د کامي کازي په ډول لوېبدو، عین شان لکه جاپانیانو به چې مقابل لوري د ځان په بیه له ژونده ویستل او د هیواد دفاع به یې کوله. موږ د خپلو مشرانو او زموږ له لاس لاندې عسکر، زموږ د امرونو په مقابل کې خنثی وو. عمل مو کاوه او جګړه مو غځوله.



# لومړی، شوروي

دا د دې ځای(شوروي) کیسه ده. موږ بي بي سي اورېده، چې له هرې رسنۍ زیاته د افغان په جګړه غږېده. موږ اورېدل چې د افغانستان حالات څنګه په تدریج سره کړکېچن کېږي او د نه حل کېدونکې معما بڼه خپلوي. موږ حربي پوهنتون لوست او له فارغېدو وروسته پلان شوې وه؛ افغانستان، کرغېږن افغانستان.

دا لومړی ځل وو چې ما د خپل ژوند تر ټولو خواږه وختونه تجربه کول. په پوهنتون کې د یوې نجلۍ له ما سره مینه پیدا شوه، بیا دواړه سره مینن شو او خبرې به مو سره کولې. دغه نجلۍ آیوانکه نومېدله او د یوې ښې نجلۍ ټول صفتونه پکې شامل وو. داسې ډېرې نجونې زموږ په پوهنتون کې په زده کړو بوختې وې، چې تقریباً ټولو ته د نظامي طب په برخه کې زده کړې ورکول کېدې. موږ ټولو له نظري زده کړو زیات له عملي زده کړو (نښه ویشتلو، ډزو کولو او ځغلېدلو) سره مینه لرله. کورونو ته کم پرېښودل کېدو او د خطونو په واسطه به مو رابطې کولې. ما ډېر وخت د خپلې راتلونکې په بابله فکر کاوه، په خاصه توګه د آیوانکې او افغانستان په اړه؛ دا زموږ ژوند وو چې ګړۍ، ګړۍ تېرېده او افغانستان ته تلل رانږدې کېدل. موږ ډېر شیان داسې تعبیر کړي وو چې هغه شان پېښ نه شول. موږ نه پوهېدو چې هلته(افغانستان کې) موږ ته څه په تمه دي؟

موږ د ورورګلوۍ او مینې په تمه وو او په ناکرارۍ مو شپې شمېرلې. د هر چا دیدګاه د هغوی د پېښو د تحلیل سره سمه وه او موږ هم افغاني حالات یو طرفه او هوار تحلیل کړي وو؛ خو هر څه سرچپه وو او حیرانوونکو پېښو پرلپسې هېښوولو.

نهه کاله پرلپسې جګړې موږ ته هیڅ ګټه ونه کړه، غیر له دې چې یو څه تجربه تر لاسه کړو. کله چې زموږ جګړه په افغانستان کې پای ته ورسېده، بیا خو دا موضوع اصلاً غلې شوه او زموږ له اوږد عمر تجربې نه چا ګټه پورته نه کړه. له دې سره چې ټولو ته معلومه وه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د سرېښو ډنډ دی، بیا یې هم ځانونه پکې ښکېلول. کمونستې افغانانو خپل مشران په دې ملامته ګڼل چې څنګه په کار وو، هغه ډول یې خلکو ته د انقلاب راڼه اهداف روښانه نه کړل، په تېره بیا عامو کارګرو او بزګرو ته. له دې سره، سره چې معلومات ورته کېدل، د عامو خلکو په وړاندې قوي، قوي دولتونه هیڅ دی.

سره جګړه په افغانستان کې روانه وه او په دغه هیواد د آمریکا د وسلو سېلاب ورخوشې وو. له دې ځای نه هم د مرستو بېړونه ورځغلېدل او شورویانو لیدل چې زموږ د خولې ډوډۍ هم له افغانانو سره شریکېږي. تنکي شورویان د افغانستان په وژنتون کې له خاورو لاندې کېدل؛ خو زموږ میندو دومره اجازه نه درلوده چې ووایي(زموږ بچیان د افغانستان جګړې ته مه لېږئ!) خو زموږ زړو کمونستې مشرانو په تأکید ویل: (شپاړسم شوروي جمهوریت!) او د دې لپاره د آپرېل د انقلاب ساتنه او د سره خلقي بیرغ رپاند ساتل مهم وو. باید ووایم چې روحاني افغانستان د واکمن ګوند له کمونستې نظریې سره نه وو موافق، حتی په آبعادو کې هم. ګاونډي پاکستان له دې هر څه ګټه اخیسته او مذهبي جګړې یې را مخ ته کولې.
موږ له دې سره جوخت چې توپکې مو ډزولې ، په خپلو مشرانو مو لعنت وایه. موږ په هغو لاسونو چې په دې عمر کې یې باید زلفې لوبولې، اور او بمونه لوبول.
زه د پلار او مور مشر زوی وم. پلار مې زما په پوځي کېدو ټینګار کاوه؛ خو مور مې بیا زما د پوځي کېدو مخالفه وه، هغه یوه لرلیدونکې ښځه وه او پوهېده، چې له زده کړو وروسته به مې ګوند افغانستان ته لېږي او هغې نه غوښتل چې د نورو په ډول زه هم د افغانانو لپاره قرباني شم. وروسته چې کله پوه شوه خامخا افغانستان ته ځم؛ یادونه یې راته وکړه:(لومړی، شوروي) او ما تعقیبول؛ آن کله چې فارغ شوم او په نوي تشکیل کې افغانستان ته انتخاب شوم، بیا یې هم مخالفت کاوه؛ خو وروسته وپوهېده چې زه خپل مشران تعقیبووم او د افغانستان د شوروي کېدو نظریې مې په ذهن کې ځغلي. ما خپل ورونه، خویندې، مور، پلار او آیوانکه د افغانستان او افغانانو لپاره پرېښودل او یو اوږد، سخت او کړاوجن بېلتون مو پیل کړ. موږ په نامعلومو رخصتیو کورونو ته واستول شو او کله چې خبر راغی(باید لاړ شو!) له آیوانکې سره د وروستي وار لیدو ته د هغوی کور ته لاړم.

د شپې (کله مو چې ډوډۍ وخوړه.) بهر راووتو او قدم مو واهه: هغې ما ته ویلي وو: افغانستان کې به څومره وخت تېروې؟





ما ویلي وو: دا دجګړې په مهال پورې تړاو لري، کېدی شي دا جګړه له یوه کاله نوره اوږده نه شي او افغانستان ډېر ژر په یوه شوروي جمهوریت بدل شي.
ما ته اوس هم یاد دي، چې هغې څومره په کرکه وویل: ته دا خبره له کومه درکه کوې؟ د عامو ولسونو د یووالي په وړاندې ستاسو ټانګونه او توپونه د یوه خلي حیثیت هم نه لري. وحدتونه استبدادونه تر پښو لاندې کوي او خپل سرنوشت په خپله ټاکي. روحاني افغانان او کمونیستې اداري؛ څه فکر کوې، دا سره جوړ راځي؟ واوره! ته به ولاړ شې او بېرته به راشې؛ خو دا ډول به معصوم نه یې، ستا لاسونه به د بې ګناه افغانانو په وینو سره وي او د یوې لوېې ډېکټاتورۍ فرمانونه به دې د ټوپک په میل تړلي وي، تش لاس او ټیټ سر به راستون شې! دا مې ومنه، ما د افغان جګړه تحلیل کړې ده. موږ د آمریکا، چین، عربانو، پاکستان او ایران مقابلې نشو کولی؛ موږ ډېر بې وسي یو...
هغه جدی رېږېده، ما ویلي وو: موږ انتخاب شوي یو. موږ افغانستان ته ځو، کېدی شي بیا رانه شم. دا زموږ وروستی ځل لیدل دي.
بیا غلي وو او په توره شپه کې د هغې لیدل سختېدل. بیا وروسته یو بل ته نږدې شوي وو او یو بل مو ښکل کړي وو او د یو څو شېبو لپاره مې راتلونکې هېر کړی وو. دا لومړی ځل وو چې ما د خپل ژوند خواږه او ترخه وختونه په یوه وخت تجربه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په څوارلسمه پېړۍ کې

زما د هغو خوبونو تعبیر (چې په شوروي کې مې لیدلي وو.) په افغانستان کې غلط راوخوت. زه په لومړنیو ساعتونو کې په خپل راتګ پښېمانه شوم او د یوه داسې راتلونکي اټکل مې وکړ چې ښه نه وو. د دغو خلکو (افغانانو) تاریخ له خاورو لاندې وو او غرور یې د خپل هیواد د غرونو په څېر لوړ او نه ماتېدونکی وو. دوی په روحانیت تکیه کوله او زموږ په ډول ماده پرستي نه وو. د خپلې جنتري له حسابه په څوارلسمه پېړۍ کې اوسېدل. د ختو کورونه یې جوړ کړي وو او ماشومان یې له څارویو سره یو ځای په خاورو کې لوبېدل. موږ ته یو داسې هدف ټاکل شوی وو، چې لارې یې له ستونزو ډکې وې، په کمې توښې وړاندې تلو او مزلونه کړاوجن وو؛ خو موږ باید تللی، ځکه که درېدلي وی، نابودېدلو. هر پړاو په وینو لړلی وو او په مځکه یې اغزي زرغون وو. هر خطر موږ ته راکتل، له هر غره او هرې درې روحاني بلاوې راموسېدې او موږ یې تحقیروولو؛ خو موږ غلي پاتې کېدو او له دغو هیلو سره وړاندې تلو، چې یو وخت به په دغو سرکشو غرونو کې د لوړ او ځټک بیرغ رپېږي؛ همدغه یواځینۍ هیله وه، چې موږ تکیه ورته کوله او سختی مو ورته ګاللې؛ خو وروسته پېښېدونکو شیانو سترې کولو او زړونو راته د کرار کېناستو امر کاوه. آندامونو هم سستي پیدا کوله؛ ځکه زموږ کارونو نتیجه نه ورکوله. کوم ځای به مو چې ونیو، تصفیه به مو کړ او افغان ملګرو ته به مو په واک کې ورکړ، ترې را به غلو؛ خو یوه میاشت وروسته به مو واورېدل چې بیا آشرار همهلته واک ته رسېدلي دي. موږ څه کړي وای؟ هلته خو د ټول عمر لپاره نشوو پاتې کېدی. پړه هم په موږ اچول کېده. پردي افغانان خو پرېږده، خپلو کمونستانو هم داسې سلوک راسره کاوه چې ګواکې د دې هر څه مسوول په افغانستان کې د څلوېښتم لښکر د سرو قطعو پوځیان دي. کله به چې بې وخته خوب سترګې راپټولې او سر به مې درد کاوه؛ احساس مې کړه چې یو ډول ګنده ناروغي مې ځوروي. بیا په یوه ماسپښین چې د افغانستان د آسمان لمر ځلېده او سپینې واورې ټوله مځکه پوښلې وه؛ څه ګنده خیالونه مې په سر کې راوګرځېدل او پلان مې کړه چې ځانوژنه وکړم؛ خو





وروسته آیوانکه سترګو ته راته ودرېده، پلار مې راپاد شو چې ناروغیو یې لمفاوي غدې ورځورولې او ورځ تر بلې ډنګرېده.

کاش زموږ انټرناسیونالېستانو په عمل کې هم هغه څه کولی شوی چې ویل یې! کاش موږ کولی شول یو بې وسه افغان له خاورو راپورته کړو، ټوپک ورنه واخلو او ورته ووایو چې افغانه ورورو، دا ستاسو جګړه نه ده، تاسو په غلطه لاره ځغلئ او پردی نظریې پلې کوئ! کاش موږ کولی شول په رښتیا سره د ورورګلوۍ رول ولوبوو او د بیا رغونې کارونه په مخ بوځو. موږ د شمعو حیثیت لاره، ویلې کېدو؛ خو نورو ته مو رڼا ورکوله؛ خو دا رڼا هغه چا ته نه ورکول کېده چې حق یې لاره. هغوی خو اصل کې په تیارو کې ساتل کېدل. ښه، موږ به فکر وکړو چې موږ ډېرې سختی وګاللې؛ خپلې ورځې مو د بل چا لپاره تېرې کړې او وخت راڅخه وتښتېده؛ څه په لاس راغلل؟ هیڅ!

که موږ هغلته یرغل نه وی وړوړی؛ نو ژوند یو بل ډول کېدی شو، بدل، ډېر بدل. موږ به اوس لویه شوروي لرله؛ فرق یې نه کاوه، که یو افغانستان نه وو؛ خو وروسته چې زموږ مشرانو د عقل په ځای له احساساتو کار واخیست؛ ځان ته یې خطرونه متوجه کړل او لوی اتحاد د خلکو د یووالي د سندرو په وړاندې ورژېد او نړۍ د داسې پېښو لیدونکې شوه، چې ډېرې حیرانوونکې وې. موږ له نږدې د دې هر څه لیدونکي وو. شورویان، افغانان او ټول وژل کېدل؛ ټول د داسې څه لپاره وژل کېدل چې باید نه وی وژل شوي. موږ د جمهوریتونو د شوروي کېدلو لپاره وژل کېدو، افغاني مجاهدین د پردیو ګټو لپاره.

کاش په دغو خبرو ټول خلک هغه وخت پوهېدلي وای چې جګړه لا نه وه پیل شوې او څوک چې پوهېدل؛ هغوی بیا خبرې له ځانونو سره پټې ساتلې، دوی ټولو په کرېملین او آرګ کې مزې کولې؛ څوک په شعرونو، څوک په شرابو او څوک په ځوانو ښځو بوخت وو؛ خو تنکي شورویان او عام افغانان د جګړې په اور کې سوځېدل او د خوړلو لپاره یې یو شی نه لاره. کله به یې چې د خطر بوی حس کړ؛ خپل ساتونکي به یې د یوه په ځای دوه، د دوو په ځای څلور او داسې به یې ضریب پسې اخیسته. یواځې یې د خبرو کولو چل ډېر ښه زده وو؛ خلقیانو او پرچمیانو عسکران غلطول، ملایانو عام افغانان د جنت او ښایسته ښځو په وعدو غولول او موږ په ډېرو ښکلو هیلو راوړاندې کولو غولول کېدو. یو ډېر ښه بازار جوړ وو، د هر چا کارو بار روان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو؛ ډزونه او مرمۍ خرڅېدې. ژوندي انسانان پلورل کېدل، چې له ځان نه به خبر هم نه وو. افغانانو د خپلو ورونو مړه جسدونه په هوټلوالو پلورل.

هغلته (افغانستان کې) داسې پېښې کېدې چې د سړي له حيرانتيا ښکرونه ورته کېږي. سور اور بل وو او خلک د تيارو په انتها کې ساتل شوي وو. هيچا نه پوښتل، دا ولې او وروسته څه پېښېدونکي دي؟ عام افغانانو خو يواځې په حال تمرکز کاوه او هيڅکله يې نه غوښتل حقيقت اورېدو ته خپل غوږونه تيار کړي، په اوازو او د شخصيتونو په ظاهري بڼو پسې تلل چې منزل يې تياره وو، يواځې تياره.



# ګردېز، چې يخ موسم يې لاره.

تقريباً د اتيايمو کلونو تر نيمايي دښمنانو له هرهغه څه نه چې په لاس ورتلل، د ماينونو د جوړولو لپاره کار اخيست. مثلاً يو عادي لوښی به يې له چاودېدونکو موادو ډک کړ، چې د چاودنې په وخت کې ترې ډېرې ټوټې يو خوا بل خوا خپرې شي او ډېر زيان واړوي؛ له دې نه يو پياوړی ماين جوړېده، چې ډېر وارې به له لېرې هم اداره کېدی شو. دغسې ماينونه معمولاً د لارو په تنګو برخو کې ښخول کېدل. هغوی پوهېدل چې هر جنګي موټر مخابره او هره مخابره آنتن لري؛ نو ځکه هغوی له ماين نه راوتلي سيمان لومړی په ځمکه کې پټ ببول، بيا به يې د سرک په غاړه د ولاړې ونې له پاسه د سرک هغې غاړې ته تېر کړل او هلته به يې له بېټرۍ سره وصل کړل. د لومړي ګاډي آنتن به چې په دې سيم ولګېده؛ نو د برېښنا د شارټۍ له آمله به داسې چاودنه رامنځ ته شوه چې نه يواځې د ګاډي سپرلۍ له منځه تلله، بلکې لاره هم د نورو ګاډو په مخ په بشپړ ډول بندېدله، په همدغه وخت کې به پر بند شوي قطار د ډزو باران هم پيل کېده. وروسته به چې کله د لارې تنګو برخو ته رسېدو؛ نو له ټولو ګاډو به مو آنتنونه کوز کړل او هغه نري، نري سيمان به مو په غور سره ولټول. همدغه د ژغورېدو يواځېنۍ لاره وه. زموږ ملګرو بيا وروسته داسې لارې، چارې وموندلې چې د پرسونل د ژوند د ژغورلو سبب کېدې. د روسي سرتېريو د اختراع کولو وړتيا د افغانستان په جګړه کې هم زموږ د پلانونو د ځغلولو لپاره مرستندوی شو؛ خو که د يوه اقتصاد پوه په دود له ما وپوښتۍ، چې وروستۍ نتيجه څه شوه؟ درته وبه وايم، چې هيڅ!

ټولو غوښتل ووايي، ګوند پالي او حکومت پالي دي. هيچا نه غوښتل وښيي، ملت پالي دي.

له لومړني پسرلي وروسته د افغانستان جنوب ختيځ ته له خپلو ملګرو سره ولېږل شوم. ګردېز، چې يخ موسم يې لاره او له پاکستان سره په پوله پروت وو. دغه ښار ته نږدې په يوه وړه پوسته کې پاتې کېدو. ګردېز د درېيمې قول اردو قرارګاه وه. په دې قول اردو کې درې فرقې: ديارلسمه، څوارلسمه او پنځه ويشمه او ۲۲ نمبر غرنی غونډ او يوه د کوماندو قطعه وه. قول

(c) ketabton.com: The Digital Library



اردو د (اوسنيو) پکتيا او پکتيکا په ولايتونو کې ځای په ځای وه او د جنوب له لوري يې د خوست ـ کابل او غزني ـ کابل په لويو لارو د کابل ساتنه کوله. د قول اردو قومندان د يوې نسب دارې او مشهورې کورنۍ غړی، تورن جنرال غلام نبي وو. دغه غلام نبي ګوړګوتي وېښتان لرل او له مخه يې شنه ږيره راتاوه وه. بيا کله چې په پکتيا کې حالات کړکېچن شوي وو او دی يې په وړاندې د تېر په څېر غلی پاتې کېده؛ نو د لرې کېدو خبره يې وشوه، دی له دې ځوکۍ لرې شو؛ خو له دې ښه دنده يې پيدا کړه، د دې لوی ولايت والي شو.

وخت نه وو چې ږيره وخرييم، نور هم په بد حال وم؛ يو علت يې دا هم وو، چې لطيف خلک نه وو او سينګار ته آړتيا نه پيدا کېده. تل به د ځان او خپلو عسکرو په فکر کې وم؛ خو آيوانکه مې هم له ياده نه وتله. کله، کله به مې ټانګ ته تکيه وکړه او شعرګوتي به مې کښل.

لاينحله کارونه او نامعلوم راتلونکی سرې له پښو غورځوي. هيڅ مې عمل او جګړې ته تابيا نه راتله؛ خو مجبور وم، ځکه چې که له ځانه مو دفاع نه وای کړې؛ دغو تيږو او کلکو آغزيو به خوړلي وی. دغو شيانو ورته مخامخېدونکي سرونه خم غوښتل؛ خو موږ دا نه وو زده کړي او همت مو په ځانونو کې پيچکاري شوی وو.

که څه هم دلته زموږ د پوځيانو د پاتې کېدلو اصلي هدف د يوه بل شوروي جمهوريت رامنځ ته کول وو؛ خو زه يې د پاتې کېدلو په مهمو دلايلو نه پوهېدم، نه مې پوځيانو دغه خبره پوښتله او نه ما له لوړ پوړيو چارواکو او جنرالانو سره په دې اړه خبرې کولای شوې. هر کله به مې چې دغه خبره منځ ته راوړه، هغوی به يواځې دومره وويل:(جګړه کوه، تر دې، چې ساه وي درکې!)

موږ (ټيټ رتبه آفسران او عسکر) يواځې د ماشې په کشولو او په زوره د ډوډۍ په پيدا کولو پوهېدو. افغانستان زموږ لپاره د سطرنج لوبه وه، چې ببخي ورسره نابلده وو؛ آن موږ په دې نه پوهېدو چې له چا سره جګړه کوو؟ ډېر ځله موږ د خپلو افغانانو ملګرو له لوري ووژل شوو او يا به داسې وختونه هم راتلل چې د مجاهدينو مشرانو به زموږ له لوړ پوړيو جنرالانو سره په يوه مېز ډوډۍ خوړله؛ دغه هر څه حيرانوونکي وو او د پردې تر شا يو بل ډول لوبه روانه وه، چې شايد اوس هم ډېر خلک ترې ناخبره پاتې وي.





موږ د ژوند کولو لپاره يوه تګلاره لرله (مړ که، يا ومره!) دا مو له هغو سپيو زده کړې وو، چې د خلکو په مخ کې به د شرط لپاره سره جنګېدل، هغوی پوهېدل چې که مقابل لوری ونه وژل شي، نو حتماً دی وژل کېږي. د ده په ژوندي پاتې کېدلو، د ده مالک ته ګټه پاتې کېده او لوبه يې ګټله؛ خو د ده تر ټولو لوی انعام بيا د ده ژوندي پاتې کېدل وو. زموږ ژوند هم همداسې وو، زموږ ژوندي پاتې کېدل زموږ د مشرانو لپاره ګټه وه او زموږ لوی مکافات، زموږ ژوندي پاتې کېدل وو.
هر سهار وختي مو پيره بدلوله. دوولس ساعته څلورو نفرو پيره کوله، دوولس ساعته نورو څلورو.
له افغاني عسکرو سره پاتې کېدو. يو بل مو په ملګرو مخاطبول؛ خو موږ د زړه پوره ډاډ نه لاره او تل به په ډار کې پاتې کېدو. موږ دومره له آشرارو نه په ډار کې نه وو، لکه له خپلو ملګرو، چې کله، کله به يې له سلوکه د کرکې بوی راته. موږ خپل مرال لوړ ساتلی وو؛ خو کله به چې افغانانو په خپل منځ کې په ټيټ غږ خبرې کولې او بيا به يې موږ ته راوکتل او پټ به يې وخندل؛ نو موږ به په زړه کې ووهل شوو او داسې به مو احساس کړه چې ګوندې مات شوي يو؛ خو بيا به مو زړه ته په دې خبره ډاډ ورکاوه، چې کم تر کمه زموږ د لاس لاندې خو ياست!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ژوندی دې وي شوروي!

کله، کله به چې د جګړې او د جګړې له فکرونو اوزګار شوم؛ نو لوېې شوروي ته به په فکر کې تلم؛ ودکا، شپه، واوره، سینما، پوهنتون، مور او پلار او آیوانکه؛ فکر مې له دغو شیانو څرخېده. کله، کله به مې دغه شعر په همدغسې وخت کې زمزمه کاوه (زموږ وطن ښکلی دی، زموږ مرال قوي دی، موږ جنګېږو، یو بل شوروي جمهوریت جوړوو!)
الکسي به ورسره خوا کې پروت هر اوسپنیز شی په یوه ځانګړي آنداز ټنګاوه او یوه خوږه موسیقي به یې جوړوله، بیا به یې له سوزه په ډک غږ چغه کړه: ژوندی دې وي شوروي! ژوندی دې وي شوروي...

افغانانو عسکرو به هم ورسره بدرګه کړه او زموږ وړوکې پوسته به د یو څو شېبو لپاره شور او غوغا ونیوله. هغوی به هم ځینې، ځینې سندرې ویلې او وروسته به یې روحاني دعاګانې لوستې. دوی د خپل وطن په څېر ځېږ خلک وو او قاطع شیان یې خوښېدل. ګردېز په ژمي کې له واورو او په اوړي کې له دوړو او ګردونو نه نه خلاصېده. سړې اوبه او ځېږه هوا یې لرله. خپه کوونکی احساس یې سړي ته ورکاوه، ماضي یې وریاداوه او سړی یې افغانستان ته په راتلو پښېمانه کاوه. موږ په زوره له دې وچ موسم نه ځان ته شاعرانه احساس جوړاوه او زړه ته مو ډاډ ورکاوه چې (هر څه ښه دي!) کنه نور خو په هر څه پوهېدو، چې له داسې بلا سره جګړه کوو چې زر پښې، زر خولې او د تښتېدلو زر لارې لري.

موږ پوځیانو ډېری وخت د اجرأتو په وخت کې د فکر په ځای له احساساتو کار اخیسته او لومړیتوب مو ورکړی وو، کېدای شي په دغه ډول مو د لوی شوروي د مشرانو لار تعقیب کړې وي؛ هغوی هم په افغانستان د راننوتلو په وخت کې فکر او ادراک تر شا پرې ایښي وو او له احساساتو یې کار اخیستی وو.

هر کله به چې په مخامخ جګړه کې ښکېلېدو، احساسات به مو تعقیبول او فکر مو له پرېکړې کولو غورځاوه، ډېر ځلې کامیاب هم راووتلو. عقل تل سړي ته د تېښتې او ځاني دفاع لار ورښيي؛ خو احساسات بیا په فکر غلبه لري او غواړي هغه څه لاس ته راوړي، چې څه یې په مخ کې دي، حتی که منطقي دلایل او امکان هم نلري.





موږ له څلورو واړو خواوو خطره احساسوله. آن ځینې وخت خو به له خپلو سیوریو او خپلو ټوپکونو هم ډارېدو. ما له خپلو ټولو عسکرو سره ښې او د دوستۍ اړیکې لرلې؛ خو له دغو ټولو څخه یواځې یو کس وو، چې له ما سره به یې د زړه خواله کوله، د زړه پټ رازونه به یې راته ویل او کله، کله به یې اوښکې راسره تویولې. یو تکړه جنګیالی، ښه دوست او فرمانبرداره عسکر وو، الکسي نومېده. ډېره عجیبه کیسه یې لرله. رومانتیک ځوان وو، د سترګو له تورو حلقو یې ښکارېده، چې غم پرې له نورو زیاته غلبه کړې ده. د هغه کیسه داسې وه چې (آلبته د ده په ټکو) ده له یوې شوروۍ نجلۍ سره مینه لرله، چې له تاجکستان څخه وه، خدیجه نومېده او له دوی سره یې په پوهنتون کې زده کړې کولې؛ خو د ده د خوښې خلاف، هغې نجلۍ له یوه بل ځوان سره (چې د الکسي دوی هم صنفی وو او په ټولو مضمونونو کې یې نومرې تقریباً پوره وې.) مینه لرله. دغې خبرې په الکسي بد آغېز کاوه او تل یې غوښتې وو چې د نجلۍ فکر ځان ته راواړوي؛ خو هغې لیاقت ته ترجېح ورکوله او ده په هیڅ صورت نشول کولای چې خپل رقیب په نومرو کې لاندې کړي، له بلې لارې یې کار واخیست. هغه ته یې کندې باسل شروع کړل: څو، څو ځله یې نجلۍ ته بې نومه لیکونه ورولېږل او په هغو کې یې اخطار ورکړی وو، که چېرته ته د دغه هلک له ملګرتیا لاس وانخلې؛ نو بد څه به پېښ شي. په راتلونکي یې نه وو غړېدلی، یواځې یې وحشت لېږدولی وو. هلک ته یې هم دغه ډول لیکونه لېږلي وو؛ خو لکه دواړه چې پوهېدلي وي، هیڅ یې دغو خبرو ته فکر نه کاوه او خپلې مینې ته یې ادامه ورکوله؛ تر پخوا ډېره، ښه او سوځنده.

د عملي پوځي زده کړو په دوران کې الکسي څو، څو ځله هغه قصداً د بدن حساسو ځایونو ته وهلی وو، هغه خوږ شوی وو او تقریباً پوه شوی وو چې اصل کیسه څه ده؟

الکسي وایي چې بله ورځ بله پېښه رامنځته شوه، هغه وایي چې هر کله دی له لیلیې راووت او پوهنتون ته لاړ، د پوهنتون مخته یوه بوږنوونکې شي د ده فکر هغه لوري ته وراړولی وو، د ده رقیب او مینه یې په خپل منځ کې یو بل ته په مینه ورکولو لګیا وو، بیا دواړو ده ته لیدلي وو او په مسخره یي ډول یې خندلي وو، په الکسي کې د کرکې او غچ حس راپارېدلی وو؛ خو زر یې قابو ورباندې راوستې وه؛ دغه هر څه یې په پټه خوله زغملي وو او ټولګي ته تللی وو. له دې پېښې وروسته ده ضد کړی وو، چې په ټولو مضمونونو کې پوره نومرې واخلي او د خدیجې زړه لاس ته راوړي. له دغې وروسته یې ټول وخت کتاب ته ورکړی وو او په ننګونه یې زده کړې مخ ته وړې. دی به له کتاب سره دومره مصروف وو، چې د ده په خبره، ټولګیوالو یې د ( د کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاکا) لقب ورکړ او له يو بله يې وپوښتل، چې دا لوی بدلون په ده کې ولې او له کومه راغی؟
دغه راز هيچا ته ښکاره نه وو او هر چا په خپله خوښه اټکلونه کول. د ټولو فکر د ده لوري ته وراوښتی وو او په ده کې يې نوي څه احساسول، آن د خديجې هم. هر کله به چې دی دخديجې مخ ته تېرېده، هغې به يو بل ډول ورليدل او په ده به يې ډېر آغېز هم کاوه؛ خو پرېکړه يې نشوه کولای، ووايي، څه پېښېدونکي دي؟

يوه ورځ د آزموينو وروستۍ پايلې راوتلې وې او ټولو د اعلاناتو په تخته حيرانوونکي څه ليدلي وو؛ ټولو ليدلي وو چې الکسي په ټول پوهنتون کې تر ټولو ډېرې نومرې ګټلې دي او په هر مضمون کې يې نومرې تقريباً پوره دي. ده غرور ښوولی وو او ويلو يې وو چې دا د ده د هڅو او خواريو نتيجه وه. رقيب يې خپه وو؛ خو خديجه بيا راغلې وه او ده ته يې مبارکي ورکړې وه. ده فکر کړی وو چې د هغې زړه يې لاسته راوړی دی. په سبا يې د دې په اړه خپل نيت ورته ظاهر کړی وو؛ هغې کرکه ښوولې وه او دی يې بې عزته کړی وو. دی زړه ماتی شوی وو او د نويو پلانونو د جوړولو په فکر کې شوی وو. کله، کله احساسات سړی داسې شيانو ته هڅوي چې ښه نه دي. ده نور خپل احساسات نشول قابو کولای؛ د خپل رقيب د وژلو په اړه يې په ذهن کې ورګرځېدلي وو. ده خپل رازونه په خپل زړه کې ساتلي وو.

په سبا ورځ پوليسو د پوهنتون د اوبو د ذخيرې سره حيرانوونکي شيان ليدلي وو؛ هغوی ليدلي وو چې يو هلک او يوه نجلۍ په خورا بېرحمۍ سره وژل شوي او بيا په ګڼو وښو کې پټ کړل شوي دي. هغوی بل څوک نه وو، خديجه دوی وو.

الکسي ويل چې دی افغانستان ته د لېږلو لپاره انتخاب شوی وو او د څو ورځينو رخصتيو لپاره کور ته لاړ. د دوی په کور کې له ټولو نه زياته خطرناکه او حيرانوونکې پېښه منځ ته راغلې وه. الکسي پلار نه لاره او د شپې به له خپلې مور او کوچنيو ورونو او خويندو سره په يوه کوټه کې څملاست. الکسي وايي چې هر کله دی افغانستان ته راته، په بېګا شپه يې په خوب کې د دوو وژنو اقرار کړی وو. مور يې دا هر څه اورېدلي وو. دی يې له کوره شړلی وو او د ده له زوی ولۍ يې انکار کړی وو. ده ډېره هڅه کړې وه چې ځان بېګناه وښيي؛ خو مور يې د پوهنتون له کيسې نه د راډيو له لارې خبره وه. دغې قضيې ته فرضې ورجوړېدې او څېړل کېده؛ خو د ده تلل نه وو تم شوي.





افغانستان ته له ټولو غمونو او آروايي ناآراميو سره راغی او بيا په داسې قومندان برابر شو چې په ډېره آسانۍ يې د خلکو له خولو رازونه باسل. په لومړيو کې زما ذهن هم مغشوش وو؛ خو د ده آرامۍ (په اصل کې ناآرامۍ) دې ته اړ کړم، تر څو وپوښتم کيسه څه ده؟

هغه هم د همراز په لټه کې وو، زه يې پيدا کړم او هر څه يې راته وويل. که رېښتيا ووايم، هره خبره يې اوس هم زما په زړه ده. تر ټولو په زړه پورې خو يې دا وه چې ده به خپله برخه خواړه نيم وخوړل او نيم به يې پرېښودل، وروسته به چې کله شپه شوه او موږ (په خاصه توګه زه) به وږي شوو؛ ده به هغه خواړه راواخيستل او په ځانګړي لطيف او خاکسارانه انداز به يې زما مخ ته کېښودل.
آه... الکسي! که قبر دې وی، اوس به مې ګلان پرې پاشلي وو.

که زه د خپل ځان په باره کې ووايم؛ زه هم له آروايي ستونزو سره له پخوا څخه زيات مخ کېدم. د ګردېز موسم په الکسي ښه اغېزه نه کوله، په تېره بيا کله چې د منې وروستۍ ورځې وې. په خوب کې يې غږېدل ډېر شول او آپلټې به يې غړولې. دا په داسې حال کې وه چې شورويانو پلان کړې وه، د ګردېز او پټان لاره (چې د آشرارو له لوري بنده وه.) خلاصه کړي. موږ هم له خپلو افغاني ملګرو سره په زغره والو موټرو او ټانګونو کې سپاره شوو او د پټان لاره مو په خوله ورکړه، مخکې له دې چې موږ روان شو، د ځلوېښتم لښکر د سر، سرپوځې قومندانانو موږ ته لارښوونه وکړه. په دغو کسانو کې ستر جنرال بارېس ګرماوف هم وو او د (کې، جي، بي) د رئيس يوري ويلاديميروويچ آندروپوف، د بهرنيو چارو وزير ګروميکوف، د دفاع وزير اوستينوف او د تورن جنرال بورېس تکاچ (چې په افغانستان کې د ځلوېښتم لښکر قومندان وو او د پالتا اوکراينې وو.) آستازي هم راغلي وو. موږ ته يې ځانګړې توصيې وکړې، د ټولو خبرو نتيجه دا وه (ټول ووژنئ!)

موږ څو نفره يوه پټۍ داره ټانک ته ورپورته شوو، چې په سر يې دهشکه هم لګېدلې وه. له موږ سره په دغه ټانک کې دوه تنه افغانان ملګري هم وو، هغوی زموږ له لوري پوره ډاډ لاره، موږ هم ددغې خبرې په آساس هر څه ښه بلل او د يوې روښانه جګړې تمه مو لرله. موږ هر څوک د ماشې له صيقله وويستل او چې هر چا به خوند راکه؛ ختماوه مو. موږ يواځې يو هدف لاره، د لارې خلاصول؛ که په هر قيمت وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کیسه خو داسې وه چې د افغانستان ــ پاکستان له ګډو پولو آشرار راتېرېدل، دوی غټ پټکي ترل او آزاد کالي يې اغوستل، چې کوچيان ورته ويلی شو، ښځې او واړه هم ورسره وو، که مو وژلي وی، له مستقيمو نيوکو سره مخ کېدو او خلکو به ويل چې عام افغانان يې ووژل؛ خو دوی به له آشرارو سره مرسته کوله. د پولې نه د راتېرېدو په مهال به يې وسلې د بېرو مېږو په خېټو پسې وتړلې او افغانستان ته به يې راننباسلې، وروسته زموږ ملګرو دغه سردردی ته لارې چارې ولټولې، له پولې راتېرېدونکيو کوچيانو ته يې ځانګړي اصول وټاکل. قومندانانو د لارې خلاصولو ته هم پلانونه جوړ کړل، چې وار په وار به له موږ سره شريکېدل. لويه ستونزه دا وه چې د خوړو له کمښت سره مخ وو او تل له دغې ستونزې نه کړېدو. ډېسمبر وو او هر ځای په واورو سپين وو څه مو کړي وی، جګړه وه، موږ پيل کړې وه، بايد ادامه مو ورکړې وی او پای ته مو رسولې وی.



# الکسي چېرته دی؟

د پلان له مخې موږ بايد په درې ورځو کې ځانونه له ګردېزه تر څمکنيو رسولي وی؛ که څه هم لارې د سيدکرم په کندو او د مېرزکې په بېرو غرونو وې. لارې له واورو ډکې او ستونزمنې وې، موږ پلي او سپاره پوځيان سوق کړي وو او له هوا نه مو هم مرسته کېده. افغانان هم له موږ سره اوږه په اوږه جنګېدل او چې څه به مو ترېنه وغوښتل؛ کول يې. زمونږ ډېر قومندانان چې له جنګي قواوو سره به ډېر کم جګړه ييزو ساحو ته تلل؛ هغوی به مخکې له دې چې جګړه پيل شي، ويل: موږ، چې تاسو ته څه ويل شوي دي او څه کوئ؛ پرتله کوو!
ريښتيا هم، هغوی به کله، کله ويل: دا څاروی مو وواژه؟ دا سړی خو بېګناه وو! ښځې مو هم ووژلې؟

موږ به غلي وو او مجازات به مو په فکر کې ګرځېدل، هغوی به دغه کار دومره جدي ونه نيوه، وبه يې خندل او زموږ د زړونو دربا به کمه شوه؛ هغوی به وويل: له هر څه نه لويه شوروي او ستاسو ژوند مهم دی.

سمه ده! موږ روان شوو؛ په داسې حال کې چې د ايتماتوف مړينه مې له ياده نه وته، په الکسي مې بايد پام ساتلی وی او د جګړې په اړه مې بايد فکر کړی وی. ذهن مې ګډوډ وو، ځکه چې ډېر وخت مې له څو ټيليفونونو پرته له مور، پلار سره آړيکه نه وه نيولې. له آيوانکې سره خو مې چې هغه شپه ليدلي وو؛ تر اوسه مې يې غږ هم نه وو اورېدلی. غوښتل مې هغې ته له يوه حيرانوونکي خبر سره يو ناڅاپه ورشم او ورته ووايم چې ته غولېدلې وې! موږ جګړه وکړه او افغانستان مو په شوروي جمهوريت واړاوه؛ خو کيسه ټولو ته روښانېده چې څه پېښېږي؟

نه پوهېدم، خو د ايتماتوف ملګري له مړينې وروسته مې په ځان کې نوي احساسات راپارېدلي وو، غوښتنې مې بدلې شوې وې؛ خو نه پوهېدم چې څه وړ غوښتنې او د څه په بابله غوښتنې لرم؟ خو په هر حال، بدلون مې احساساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ټانک د ځنځيرونو ګړزا خته. په ځانګړي شر و شور د پټان په لور تلو. الکسي ګوته په ماشه غلی ناست وو، سترګې يې په يوه شي کې ښخې کړې وې او فکر يې بل چېرته وو. افغانان ملګري؛ يو يې دهشکې ته ولاړ وو او بل په ټانک کې ناست وو او په ټيټ غږ يې زموږ د روحيې د رالوړولو لپاره زما هغه شعر په ماته ګوډه روسي وايه:( زموږ وطن ښکلی دی! زموږ مرال قوي دی! موږ جنګېږو، يو بل شوروي جمهوريت جوړوو!)
نه پوهېده چې څه وايي، خو ويل يې.

ما ته بيا په دې ساړه او کرکجن موسم کې د ايتماتوف راځوړند او يخ جسد سترګو ته ودرېد، وېره مې احساس کړه، الکسي ته مې وکتل، هغه هم فکر کووم همدغه سوچ رالاندې کړی وو.

د جوړ شوي پلان مطابق، موږ بايد د لښکر په پای کې تلای او د شا له لوري مو د لښکر ساتنه کولای، همداسې مو کول، نقشه او پلان مو تعقيبول. د ډېسمبر په دغه ورځ مځکه سپينې لړې نيولې وه، په دوه مترۍ کې شيان په سختۍ ښکارېدل. تېز؛ خو په احتياط تلو. ډېر په سختۍ ښکارېدل چې د افغانانو له بامونو لوګي روان وو. يو وخت مو وليدل چې له سيدکرم نه تېر شوي يو او د کړکېن په ښکلې وادي ورننوتي يو؛ د دې تر څنګ مو دا هم احساس کړه چې په دغه ښکلې او تنګه دره کې (په داسې حال کې چې لړو نيولې وه.) له لښکره شاته پاتې شوي يو او لاره مو ورکه کړې ده. د ټولو په زړونو ډار ننوت او نه پوهېدل چې څه وکړو؟

ټانک مو ودراوه او يوه شېبه په فکر کولو کې شوو. فکر مې دومره خراب وو چې هېڅ مې دې ته خيال نه وو شوی چې الکسي چېرته دی؟

الکسي له ټانکه کښته شوی وو، ټوپک يې په ټانک کې پرې ايښی وو؛ خو څو داني ګرنېټونه يې له ځان سره وړي وو. ټوپک مې يې راواخيست، په خوله کې يې يو ياداښت کېښودل شوی وو، ۳۵ کاله تېرېږي خو هغه ياداښت اوس هم له ما سره دی او د يوه آرزښتمند شي په توګه يې ساتم. هغه ليکلي وو:( زه ډارن يم، په دومره ناآرامو مغزو مې د لوېې شوروي لپاره څه نشول کولی، زما غوندې خلک بايد ومري؛ خو مرګ هم له ډارنو کرکه کوي، تر څو يې ځان ته راونه غواړي. ښاغلی قومندانه، هر کله چې لوېې شوروي ته ولاړې، زما قضيه وتړه او ورته ووايه چې عامل يې مړ شو. مور خو مې زما په بابله نه پوښتي؛ خو که بيا يې هم وپوښتل، ورته ووايئ چې د يوه آتل په توګه مړ شو.)





له هر هغه څه چې زه ډارېدم، هغه پېښه وشوه، الکسي د ايتماتوف له پېښې پوره آغېزمند شوی وو، په ياداښت کې يې هم هغه څه ليکلي وو چې ايتماتوف ليکلي وو. د هغه ياداښت مې جېب ته واچاوه او له دهشکې ته ولاړ افغان ملګري نه مې د الکسي په باب وپوښتل، هغه په ماته، ګوډه روسي وويل، چې د ټانک له درېدو سره سم له ټانکه کښته شو.

د ټانک د درېدو دومره وخت نه وو تېر، کولی مو شول د دغې کرکجنې پېښې مخه ونيسو. د ټانک چلوونکي ته مو توصيه وکړه چې همدلته دې ودرېږي او هېڅ ښور دې نه خوري او په خپله له افغان ملګري سره (چې دهشکې ته ولاړ وو.) له ټانکه کښته شوم، په تقريبا يو فوټ واوره کې مو د الکسي پلونه لټول، بالاخره مو پيدا کړل، تعقيب مو کړل، د غره ډډې ته ورپورته شو، په ګڼو نښترو کې به کله، کله د الکسي پلونه ورک شول. موږ ډېر تېز تلو، له احتياطه مو هم کار نه اخيسته، پوهېدو، که چېرته په يوه دقيقه کې هغه ته ځان ورونه رسوو، لاسي بم ځان ته ږدي او وژل کېږي. يو وخت بيا د الکسي وارخطا پلونه په نښترو او ګڼو وچو وښو کې ورک شول، موږ د پلونو په پيدا کولو لګيا وو چې د لاسي بم غږ مو واورېد، هيڅکله په ژوند کې دومره نه وم مايوس شوی، لکه په هغه وخت. کېناستم او ومې ژړل؛ خو افغان ملګري زر راپورته کړم او راته وېې ويل چې بايد هغه لوري ته ورشو، ولاړ شوم، خو احساس مې کړه چې زنګنونه مې لړزېږي. د الکسي مړی دوه څيرې پروت وو او تازه وينه ترې بهېده. موږ يوه شېبه غلي ولاړ وو؛ خو بيا افغان ملګري د تل په څېر زړورتوب وښود، د الکسي خواره واره او پاشلي آندامونه يې راټول کړل. په واوره کې د لوېې شوروي بيرغ جوړ شوی وو، سور رنګ. شوروي ملګري د افغانانو لپاره ځان قربان کړ او افغان ملګري يې د جسد په راټولولو کې زړورتيا ښودله. د جسد ليدلو هم د سړي زړه خراباوه. موږ د جسد راپورته کولو ته ځانونه جوړول چې د غره له سره په موږ ډزونه وشول، زموږ له پښو سره نږدې ځيان لګېدل، ډزو کوونکو په قهرجنه لهجه په آمريه ډول يو څه ويل، تقريبا له موږه سل متره لرې وو، له ما پناه وو؛ خو افغان ملګري ته مې مخامخ وو، په پوښتونکي نظر مې وروکتل؛ افغان ملګري وويل: آشرار!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بل کور

د زنګنونو تر څنګ مې زړه هم ولړزېد. تازه واوره هم راکښته شوې وه او له لرې نه د ځناورو غړونه اورېدل کېدل. افغاني ملګري مې وويل: قومندانه، موږ بايد وسلې وغورځوو! هغوی موږ وژني!

خو ما فکر کاوه چې مقاومت بهتر دی، دښمنان ورو، ورو رانږدې کېدل او په موږ کړۍ راتنګېده. موږ ته ويل شوي وو چې آشرار دومره حوصله او د بنديانو د ساتلو لپاره توقيفخانې نه لري. يو ناڅاپه مې پرېکړه وکړه، توپکونه مو وغورځول، لاسونه مو پورته کړل او افغان ملګري مې په افغانی ژبه چغه کړه: موږ تسليم يو!
دړونه لا هم يو، دوه کېدل او زموږ د پښو سره يې واوره شيندله. هغوی په احتياط سره رانږدې کېدل او د توپکو نلونه يې زموږ لوريو ته نيولي وو، هغوی د يوې کړۍ په څېر په موږ راچاپېر وو. په پای کې تر موږ راورسېدل، په سرونو يې کلک، کلک کونداغونه راکړل، موږ سر چپه په مځکه ولوېدو، هغوی په زوره، زوره غږېدل، فکر کووم ښکنځلې يې کولې. وروسته يې زموږ د لاسونو د ترلو په دوران کې ځينې دعاګانې هم لوستې. د الکسي له شيندلي جسد نه وينه روانه وه او سپينې واورې ته يې د ګوند د بيرغ رنګ ورکاوه. موږ ته يې سترګې راوترلې او په يوه لوري يې روان کړو، لا مو له بدنه د تبرګوزار درد نه وو وتلی چې نور يې ووهلو، هيڅ کله مې داسې درد نه وو ليدلی، پخوا مې فکر کاوه چې د آيوانکې له بېلتونه بل بد شی په دنيا کې نشته؛ خو وروسته وپوهېدم چې تر فزيکي درد او وهلو هيڅ خراب شی وجود نلري.

موږ نه پوهېدو چې چېرته ځو؛ خو په تلو کې ستونزو پوهولو چې په غره پورته خېږو. د الکسي جسد هملته پاتې شو او په دنګو نښترونو کې په داسې حال کې روان وو چې د دښمنانو سخت سلوک هم ورسره مل وو. موږ (شخصاً زه) د يوې لوېې شکنجې او ورپسې د مرګ په تمه وو. يو نفر وو، چې هم يې ډېرې ښکنځلې کولې، هم يې ډېر تهديد او وهل کول، ومې ويل چې خلاص شم، لومړی دی په دار ځړوم.

کېدی شي ډېر مزل مو کړی وي، يا کېدی شي لږ مزل مو کړی وي؛ خو وخت يې ډېر ونېو. هغوی هېڅ ستړي کېدل نه؛ تر څو يې چې تر منزله رسولو، د ولاړېدو توان نه





وو راپاتې. موږ يې د يوې لوېې غونډۍ په سر يوې سمڅې ته ننباسلو، دا موږ حس کوله؛ ځکه د باد غږ او سړه هوا ورک شول. د پښو د ښنګ، ځښک غږ په ځای د درب، درب غږ اورېدل کېده. کرکه مې احساسوله او تر سپړمو مې د وينو بوی راته. يوې بېلې کوټې ته يې وراچولو، سترګې او لاسونه يې راپرانيستل. هغلته هيڅ فرش نه وو، غولې نمجن وو او د موږکانو بوی ته. کله نا کله به يو نيم موږک له سوړې راووت او په کوټه کې به يې منډه کړه. له افغان ملګري نه مې د دې ځای په باره کې وپوښتل، هغه وويل: دا د منګلو ساحه ده.

منګل د پښتنو د ځېرو قبايلو څخه دي، د انګرېزانو په خلاف په لويو جګړو کې هم همدغه قوم ډېره لويه ونډه لرله او د بې پايه مقاومت تاريخ لري.
يو څو شپې وروسته مو سترګې له تيارو سره بلدې شوې. له باندې نه د ملايانو غږونه اورېدل کېدل، چې کرکه او غوصه پکې محسوسېدل. کله، کله به په خټ، خټ وخندېدل. افغاني ملګري مې په ماته ګوډه روسي د هغوی خبرې راته ژباړلې؛ خو نور مې دې ته اړتيا نلرله چې نوې شيان زده کړم؛ ځکه پوهېدم چې له دغه غاره وتل سخت نه، ناممکن دي. دغه ځمکتله بېخي نامنظمه او جګه او ټيټه وه. سړي ته يې داسې څه وريادول چې ښه نه دي. د پښو لړزه مو لا نه وه ختمه، چې د څه شي انتظار مو کاوه؛ پېښې شول. څو ږيره ور چې لوېې توټې يې له سرونو تړلې وې، راننوتل. بې سريزې يې کار پيل کړل. د نښترو کلک لرګي يې راته ونيول. موږ له درده چغې وهلې؛ خو هغوی ته له موږ ډېر درد ورته او هره شېبه يې هڅه کوله له افغاني ملګري مهم معلومات واخلي؛ خو هغه خپلې خاورې او دندې ته وفادار وو، په خوله يې ورغوی اېښی وو او څه يې نه ويل. له ما خو يې د څه اورېدو تمه نلرله، په کوټک يې پوهولم چې کرکه يې حد نلري. افغاني ملايانو هغلته په سمڅه کې يوه لويه تجربه راکړه، هغوی وپوهولم چې له فزيکي درده ناوره هيڅ شی نشته.

ډوډۍ هم ډېره خرابه وه او سړی نه په مړېده؛ خو موږ پخوا له دې شيانو سره بلد وو او عادي راته ښکارېدل. يواځې له يخ او شکنجو ډېر ځورېدو. د هر چا به چې خوښه شوه، راته به او ښه وهل به يې راکول، ښکنځلې به يې کولې او بيا به يې وروسته روحاني دعاګانې لوستلې. زموږ د وهلو په بدله کې به له خدايه د لوی ثواب په تمه وو. يو وخت يوه حيرانوونکې پېښه هم رامنځ ته شوه، يوه کليوال سړي مجاهدينو ته دوه پسونه راوستل، تر څو مجاهد قومندان اجازه ورکړي چې زموږ په لوري راشي، ومو وهي او له دې لوی ثوابه ځان برخمن کړي. هغه اجازه ورکړې وه او غټ سړی له غټ کوټک سره راننوت، د هغه کرکه د هغه د ګوزارونو له شدت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه معلومېده. موږ دواړه په څو شېبو کې له هوښه وتلي وو. هغوی ټول پښتانه وو. موږ ته خبر رسېدلی وو چې په ګردېز او سیدکرم کې مو ملګري نیول شوي وو؛ خو موږ نه پوهېدو هغوی څوک، څوک دي. د لارې د عملیاتو په باره کې افغان ملګري ویل چې مجاهدینو ویل، روسان بریالي شوي دي. زه خوښ شوم؛ خو په زړه کې مې راوګرځېدل چې ملایان به خامخا د دې خبرې غچ له موږ نه اخلي.

زه یوې خبرې ته حیران وم او هغه دا چې ولې ملایانو غوښتل موږ ژوندي وساتي، که د تبادلې لپاره یې دا کار کولی؛ نو هغه مجاهدین چې په مخامخ جګړه کې نیول شوي وو، ژوندي نه دي پاتې او تر توقیف او زندانه نه دي رسېدلي.

دوی هغه څه کول چې مشرانو یې ورته ویل. د دوی مشران ډېری مذهبي پوهان وو، چې هر یوه یې له یوې لویې نسب دارې او شتمنې کورنۍ سره تړاو لاره. هغوی ته نه یواځې د دوی ټوپکمارانو عقیدت درلود؛ بلکې عامو وګړو هم هغوی د خدای آستازي بلل او د ژغورونکو پرښتو نسبت یې ورته کاوه. د هرې پنجشنبې په ورځ به د شاوخوا کلیو خلکو مجاهدینو ته په ډالۍ کې پسونه راوستل او کالي به یې هم ورمینځل. هغوی په ښکاره ډول په خپلو لستوڼیو کې مارانو ته ځای ورکاوه. افغانانو د ځان په ضد خلک روزلي وو؛ خو کله چې وپوهېدل؛ نو وخت تېر وو او دغه لویه جغرافیوي ساحه په نفتي شېخانو او امریکایانو پلورل شوې وه. دوی هغه چا ته ډوډۍ ورکوله چې عامه ځایونه یې رنګول او په هغه چا پسې یې (چې پلونه، ښوونځي، روغتونونه، د برېښنا بندونه او نور عامه ځایونه جوړول.) چغې وهلې چې زموږ له هیواده ووځئ! حال دا چې د جګړې دواړه فریقه پردي وو. موږ مستقیماً په جګړه کې ښکېل وو؛ خو امریکا، عربانو، پاکستان او د چین کمونستانو له افغاني مذهبي جنونیت نه ګټه اخیسته او افغانان یې په افغاني حکومت ورمارش کول. ډېر ځله موږ په پاکستان کې د داسې غونډو او مظاهرو په اړه واورېدل چې اصلي موضوع به یې له دغه ټکي راګرځېده(د افغانستان جهاد، د پاکستان دفاع) دا یې په تله برابر تللي وو. زموږ کرېملینیانو هم ډېرې غلطۍ تکرارولې؛ خو په هر حال...

یوه ورځ یوه بله پېښه وشوه، افغاني مجاهدینو یو نړدې زوړ او رېږدېدونکی سړی زموږ سمڅې ته راننویست، د هغه لاسونه یې په خپل پټکي شا ته ورتړلي وو او هره شېبه یې هڅه کوله د خپلو قوي منګولو زور د سړي په یوه خوا بل خوا کړولو، جګولو او ټیټولو یقیني کړي. موږ ته دا نسبي په زړه پورې وه او فکر مې کاوه چې زموږ کوچنۍ ډلې ته یو بل نوی سړی هم راغی. هغه یې یوه کونج ته د یوه بې ارزښته شي په توګه وروغورځاوه او فکر کووم، دغه زاړه سړي به هم د



خپل معنویت د سپکېدو احساس کړی وي؛ ځکه دا ډېره حیرانوونکې وه چې د تورو روسي کلوشو لرونکی سړی دې په داسې ډول ځای کې وي. زوړ سړی چې کله له ډېرو چغو او کنځلو کولو ستړی شو؛ نو له خپلې پزې راتویېدونکو وینو ته متوجه شو او کېدی شي فکر یې کړی وي، چې له خلاصونې بغیر باید په نورو شیانو هم فکر وشي.

څو ورځې وروسته هم له موږ سره نه غږېده، بیا، کله چې افغان ملګري په ډېر ټینګار وغوښتل، هغه د څه خبرو کولو ته مجبور کړي؛ نو هغه خوله پرانیسته او د افغان ملګري په وینا، ویې ویل، چې د دغه ځای قومندان د شاه د وخت په معاملاتو کې ستونزه ورسره لري او هغه ته د غچ اخیستلو تر ټولو ښه موقع همدغه معلومه شوې او دی یې له ناسیونالیستانو سره په کومک تورن کړی دی.

دغه زېړه خرېیلی سپین ږیری له تقریباً لسو ورځو وروسته د مجاهدینو له لوري په داسې حال کې له سمڅې وویستل شو، چې هره شېبه یې چغې وهلې او د کومک غوښتنه یې کوله؛ ځکه هغه پوهېده، چې له ده سره اوس څه پېښېږي. کله یې چې له سمڅې وویست، څو دقیقې وروسته مو د سختو، یو طرفه او ډېرو ډزونو غږ واورېد او له دې سره مو احساس کړه چې د زاړه افغان کیسه د تل لپاره ختمه شوه.

له لومړۍ نیونې وروسته ورځې، اوونۍ یا میاشتې تېرېدې؛ خو نه پوهېدم، کېدی شي میاشتې تېرې وي؛ ځکه هوا ښه شوې وه. له ورې لرګینې دروازې د لمدو خاورو راننوتونکې بوی په دې پوهولو چې نور پسرلی دی او ژمی مات شوی دی. د لمدو خاورو له بوی سره به د تازه شنو شویو وښو بوی هم راته او سړي ته به یې هغه څوک وریادول چې خورا به پر ګران وو. د پېنځزا پسرلی یې رایاداوه او آیوانکه او د هغې ځلاندې سترګې یې یاد ته راوړلې. د ودکا او چکر وخت وو؛ خو موږ په داسې قفس کې بند وو چې خلاصېدل ترې ناشوني وو. کله، کله به په فکر کې ډېر لرې لاړم؛ آیوانکه او رومانتیکې پېښې؛ خو کله به چې هوښ سره وښورولم؛ نو په نمجنه ځمکه به ناست وم او د ملایانو خبرې او د موږکانو سندرې به مې اورېدې. افغان ملګری مې هم زما په رقم له روحي ستونزو سره مخ وو؛ خو بیا یې هم د ځان په باره کې فکر نه کاوه او تل به د مېلمه (زما) په اړه ځورېده. زما د تسلي لپاره به یې زما سندره زمزمه کوله(یو بل شوروي جمهوریت!) خو هغه په دې نه پوهېده چې اوس د افغانستان د شوروي کېدو خوبونه په اوبو لاهو کېږي، کیسې پېچلې کېږي او هر څه یو نامعلوم پلو ته ګرځي؛ خو افغان ملګري په هر حال کې ډاډ راکاوه او ویل یې چې موږ (افغانان) له تاسو سره یو او د سر په بیه ستاسو ساتنه کوو. هغه هیڅ وخت همت نه بایله. څو، څو ځله یې له سمڅې د تښتېدو پلانونه جوړ کړل؛ خو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يو خنډ به رامنځ ته کېده. تر ټولو لوی خنډ، چې زموږ پلانونه به يې له منځه وړلو سره مخ کول، تیاره او د رڼا نه شتون وو. په څلرویشت ساعته کې به یواځې یو ساعت داسې پېښېده چې زموږ سمڅه به لږ روښانېده. موږ یواځې د یو بل مخونه لیدلی شول. . ږیرې مو اوږدې شوې وې. که په دې وخت کې مو د افغانانو کالي اغوستي وی؛ نو مجاهدين به بريښېدو.

موږکان هم ډېر شوي وو. زموږ غوږونو ته به يې د غم موسيقي غږوله. کله، کله به يې په موږ راټوپ کړل او خوله به يې رابانـدې ولګوله. د هغـوی پـه غـږ کې مې هـم سـپکوونکي الفـاظ محسوسول (زموږ له هيواده ووځئ!)

موږ وروسته هم د تېښتې لارې سنجولې او پلانونه مو جوړول. په هغه يوه ساعت کې، چې سمڅې ته رڼا رالوېده، د سمڅې وره ته به مو ځانونه وررسول او رالوېدونکې رڼا ته به مو له لوټو او تيږو نه په مځکه نقشې راکاږلې او ځانونو ته به مو د تېښتې لارې سنجولې. موږ وپتېيله چې له سمڅې نه تر وتو وروسته د غره په ډډه کې د ډنډ و پټان ـ ګردېز لاره تعقيبوو او دنيمې ورځې يا يوې ورځې توند او سخت مزل نه وروسته رود ته ځانونه رسوو.(چې امن ځای دی.) څو ورځې دمه کوو او بيا خپلې پوستې يا رادارو ته ځو، بېرته ټوپک رااخلو او جګړه پيلوو؛ خو آساسي ستونزه دلته وه چې څنګه له دې ناولې ځمکتلې ووځو؟

د الکسي او ايتماتوف آرواوو هيڅ کرار کېناستو ته نه پرېښودم، په دې ډاډه وم چې زما په زړه کې به د غچ راپارېدلي احساسات يو ورځ سړېږي او زه به د خپلو ملګرو بدله اخلم. د ملايانو په جوماتونو به د لور او څټک بيرغ رپووم او آيوانکې ته به وايم چې راشه وګوره، تا دروغ ويلي وو!

يو وخت دومره له ذهني فشار لاندې راغلم، چې چغې مې کړې او ځان مې په مځکه، مځکه ويشته. شېبه وروسته درزا شوه، سمڅې ته ملايان راننوتل، لغتې يې راکړې او په مځکه يې آرام پرې ابستم. هغو ی ووتل او دروازه يې په شدت سره بنده کړه. افغان ملګری وارخطا وو او زما له خولې يې ځګونه پاکول. ما ويل هر څنګه چې کېږي بايد له دې سمڅې ووځو. موږ د پلان په جوړولو کار پيل کړ. افغان ملګری يو څه له دغې جغرافيې سره بلد وو او زه هم چې په کومه لاره راغلی وم، پوره ډاډه وم چې بېرته پرې تللی شم. د وره په خوله کې مو تتې رڼا ته نقشه جوړه کړه او بيا مو پلان جوړ کړ چې په ځانګړي تکتيک سره نن شپه تښتو.



## هغوی په موږ پسې دي.

د معمول خلاف، له باندې نه د آلوتکو آوازونه راتلل او مجاهدينو پرېشانه يو پلو بل پلو منډې وهلې او دربا يې تر موږ راتله. وپوهېدو چې يو څه خبره شته، يو څو شېبې آلوتکې تاو را تاو شوې، بېرته لاړې او غږ يې ورک شو. مجاهدين هم کرار شول او خپلو موږک غارونو ته راغلل، ځينې دعاګانې يې هم لوستلې، ځينو خو خندل هم.
زما زړه لړزېده؛ ځکه چې يوه نوې پېښه پېښېدونکې وه؛ خو افغان ملګرى عادي ښکارېده او دا وعده يې راسره وکړه چې په هر ډول وي تا به تر ګردېزه ژوندی رسووم، بيا دې د خپلو ملګرو غچ واخله او شوروي ته، خپلې کورنۍ ته ولاړ شه!
موږ د ملا راتلو ته انتظار باسه او تيار ناست وو. افغان ملګری له وره سره نږدې ناست وو او ځان يې ويده ښوده. يو وخت لرګينه دروازه راخلاصه شوه. افغان ملا، چې کلاشينکوف يې غاړې ته اچولی وو، سمڅې ته راننوت، هغه د زاړه افغان کلوشې په پښو وې، له افغان ملګري راتېر شو، کله يې چې د خوړو کاسه په ځمکه کېښوده، يو ناڅاپه مې حمله پر وکړه، ده چې د داسې پېښې تمه نلرله، وډار شو، هر څه ته يې لاس وراچاوه، ما د هغه په خوله لاس ورکېښود، د شا لخوا ترې راچاپېر شوم، د سمڅې تيارې حصې ته مې کش کړ، ټوپک يې په مځکه ولوېد.
افغان ملګري په دروازه کې په ولاړ ملا حمله وکړه، په زوره يې سمڅې ته راکش کړ، ټوپک يې ترې واخيست او وېې ګواښه چې غلی پاتې شي. مجاهد لاسونه پورته کړل او په دېوال پورې يې ځان ونښلاوه. ما ټوپک راواخيست، مجاهد ته مې لغته ورکړه، دواړه مو په يوه ځای ودرول، لاسونه يې پورته نيولي وو او لړزېدل.

افغان ملګری مې وپوهاوه، چې هغوی وپوښتي، له دې ځايه د تښتېدلو لاره کومه ده او څومره مجاهدين دلته پاتې کېږي؟

هغه پوښتنه وکړه؛ خو مجاهدينو نه غوښتل څه ووايي، له ډېر تهديد سره هم چوپه خوله ولاړ وو. اخر مو حوصله ختمه شوه، اورمېږونه مو ورتاو کړل او کيسه مو پای ته ورسوله. د افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملګري په مرسته مې د افغانانو کالي واغوستل، پکول مې په سر کړ او څادر مې له ځانه تاو کړ. د هغوی مړي مو د سمڅې یو کونج ته ورکش کړل، بیا په ډېر احتیاط له سمڅې ووتو، د سمڅې دروازه مو وتړله، دهلېز هم تیاره وو. د باندې سپي غپېدل. یو نیم مجاهد به مو هم مخې ته راغی، سلام به یې وویل او تېر به شو. موږ اوس له سمڅو راوتلي وو. په ځنګله کې مې یو ښکلی احساس وکړ. دغه سمڅې په چمنونو پوښل شوې وې او له باندې داسې نه ښکارېده چې دا دې د اوسېدو ځای وي. سپي غپېدل...

سمڅه تقریباً د غره په سر کې وه او موږ له غره نه د راکوزېدو په حال کې وو؛ کرار او ډاډه.

هغوی د سمڅې د امنیت لپاره د ونو او ګڼو بوټو په منځ کې پیرې درولې وې. موږ د ګڼو ونو په منځ کې په لمده خاوره ورو، ورو لاندې د سیند په لور کښته کېدو. په سر مو تیاره آسمان ولاړ وو او د یوې نوې کېدونکې پېښې ننداره یې کوله.
(که یو څوک غږ وکړي او ووایي چې چېرته ځئ؟ موږ به څه وایو او یا که هغوی زموږ سمڅې ته ننوتي وي او لوڅ مجاهدین یې مړه لیدلي وي، بیا؟ موږ باید تېز لاړ شو!) افغان ملګري ته مې وویل.
هغه وویل: له غره چې کښته شو، بیا نو د لوېدیځ پلو په منډه ځغلو، یواځې دلته دومره کوو چې څوک راباندې شکي نه شي.
موږ په خبرو لګیا وو چې د ګڼو بوټو له لورې یو چا راغږ کړ: چېرته ځئ!
زما زړه ولوېد، هغه پلو مو وروکتل، ډله مجاهدین د نښتر د ونو لاندې د بوټو په منځ کې په یوه هوار ځای ناست وو، یو دوو یې سګرېټ هم لګولي وو. افغان ملګري (په داسې حال کې چې لړزېده.) وویل: لاندې کښته کېږو! (افغان ملګري په ډېر زیار سره خپل تعادل ساتلی وو.)
مجاهد غږ کړ: اودس ته ځئ؟
افغان ملګري وویل: هو!
ـ ښه پام کوئ، د شورویانو ګزمې نن لیدل شوې دي.
ـ سمه ده.





موږ روان شوو؛ خو د پخوا څخه هم ورو؛ ځکه موږ ویل چې شکمن نه شي. افغان ملګری ډېر ډاډه وو، په تېره بیا هلته، چې له بېرو ونو راکښته شوو او د سیند غاړې ته راورسېدو.

افغان ملګري وویل: اوس هغوی د خپلو ملګرو پوښتنه کوي، کله یې چې پیدا نه کړي، پسې ګرځي او کله یې چې زموږ په سمڅه کې مړه او لوڅ پیدا کوي؛ نو هغوی وایي چې بندیان موږ ولیدل، د افغانانو کالي یې اغوستي وو او په دې لاره کښته شول، بیا نو ټولو ځایونو ته مخابرې کوي او موږ له سختې څارنې لاندې راځو...

ما وویل: باید...
ـ باید وتښتو، په منډه! هله نو...
د غره په ډډه کې مو د لوېدیځ پلو منډې شروع کړې، دغه ځای هم په ونو پوښل شوی وو، سیند یوه لویه غوغا جوړه کړې وه، سل متره به نه وو تللي چې د ډزو غږ مو واورېد، ورسره سپي هم وغپېدل. یوه شېبه ودرېدو، افغان ملګري وویل: هغوی ته معلومات شوی، په موږ پسې دي، بېړه کوو، تښتو!

قدمونه مو نور هم چټک کړل، ما وویل: ځغلو...تېز...اوس موږ نشو کولی چې ودرېږو. داسې ټاکلی ځای هم نه دی رامعلوم...خوندي...
ـ د لارې په اوږدو کې کله، کله خپل مسیر ته بدلون ورکوو، خو موږ باید د شپې تر پایه سیدکرم ته ورسېږو، هغلته د لارې ښي اړخ ته اوړو او په یوه کور کې پناه اخلو.
ما وویل: یوه شېبه ودرېږه!

موږ ودرېدو، شا ته مو وکتل، رڼاوې مو ولیدې؛ خو ډېرې تتې. په پوخ یقین سره یوې لوېې ډلې په موږ پسې ځغستل. هغوی که څه هم لرې وو؛ خو د پښو او ښکنځلو غږونه یې تر موږ رارسېدل. منډو ته مو نور زور هم ورکړ، په آزاد پرتوګ کې منډه وهل راته سخت وو، افغان ملګري مرسته راسره کوله، له لاسه یې نیولم او په ځان پسې یې راکاږلم، تېز ځغستو؛ خو د مجاهدینو په پرتله موږ په غرونو کې له منډو سره نه وو بلد. هغوی ورو، ورو زموږ لوري ته رانږدې کېدل او د پښو غږونه یې اوس موږ ښه واضح اورېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان ملګري وويل: بې له دمې منډې وهو او هغوی ته په ځغاسته کې ماته ورکوو!
کېڼ لوري ته تاو شوو او په غونډۍ وروختو، په ګڼو ونو کې مو منډې وهلې. د مجاهدينو د پښو غږونه لږ کرار شول؛ خو ځراغونه يې يو خوا بل خوا اچول، موږ د پخوا په څېر منډې وهلې...هغوی زموږ په لور ډزې کولې...



## په ټوله شوروي کې ما داسې ښکلا ونه ليدله.

تياره لا نه ورکه شوې چې له جګو غرونو او ببرو ونو يوه هوار ډاګ ته راورسېدو، دا سيدکرم وو. ټوله شپه مو سترې مزل کړی وو، اوس مو هم احساسوله چې مجاهدين راپسې دي. ښې لاس ته وګرځېدو او په تياره کې مو د غره په لمن کې کورونه سيې کړل. بس زړونه مو ولګېدل، د ځغستا شيمه نه وه راپاتې؛ خو تېز تلو او د مجاهدينو ډار مو احساساوه. افغان ملګري وويل: موږ بايد ژر يوه کور ته پناه وېسو، خلک د خدای د لمانځلو لپاره جومات ته راوځي، آذان ته کم وخت پاتې دی.
شېبه وروسته په کلي کې وو، ټول کورونه بې نقشې جوړ شوي وو، اوس مو دروازې سيې کولې شوې. له خټو نه د يوه جوړ کور لرګينه دروازه مو په کراره وټکوله، څوک راونه وتل، بيا مو وټکوله. يوه شېبه مو يو ډډ غږ واورېد، چې خامخا به يې ويل: څوک يئ؟ درغلم!
افغان ملګري وويل: مجاهدين يو!
سړي دروازه خلاصه کړه، د خپل آواز په څېر غټ سړی وو، شنې سترګې يې هم لرلې، حيران شو؛ خو له حيرانۍ سره، سره راغی او په غېږه يې له موږ سره سترې مشې وکړې.

افغان ملګري مې راته ويلي وو چې ته بايد غلی پاتې شې او د يوه ګونګ په څېر سلوک وکړې. زه غلی وم، سړی له افغان ملګري سره غږېده. وروسته يې کور ته ننباسلو. سړی ډېر کښته پورته کېده او ځان يې خوش قسمته ګاڼه، چې مجاهدين يې مېلمانه شوي دي. سړی لاړ او موږ يې په کوټه کې کښېنوولو. افغان ملګري ته مې وويل چې ته بايد هغه پوه کړې چې زموږ له راتګه څوک خبر نه کړي. افغان ملګري ومنله.

سړی له دوو کوزو ګرمو اوبو سره راغی.(په اوړي کې هم هلته خلک سهار ګرمې اوبه استعمالوي.) ويې ويل: اودسونه وکړئ، اوس آذان کېږي، جومات ته به ځو!
افغان ملګري وويل: نه، نه! موږ سترې يو، جومات ته نه شو تللی؛ خو بايد هيڅوک هم خبر نه شي چې له تا کره دوه مجاهدين راغلي دي.
سړی يو څه بل ډول شو؛ خو په مجاهدينو ورته شک کفر ښکاره شو، ويې ويل: سيې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د کور پراخ آنګړ ته راووتو، سړی بېرته کور ته لاړ. ما په لاس کې کوزه نیولې وه او نه پوهېدم، څه وکړم؟
افغان ملګري وویل: څه چې زه کووم، راپسې تکراروه یې!

اوس رانه هېر دي؛ خو فکر کووم، لومړی یې لاسونه ومینځل، بیا یې مخ، بیا یې پزه او خوله ومینځل او بیا یې تر څنګلو لاسونه ومینځل، وروسته یې په سر باندې په ځانګړي آنداز لاسونه راکښل او بیا یې پښې ومینځلې، ما دا هر څه تکرار کړل؛ خو په سر یې د لاسونو راکښل سخت وو. د کوټو له کړکیو ښځو او ماشومانو راکتل. آذان وشو، موږ بېرته کوټې ته ننوتو. د کوټې په دېوالونو ببلابېلې مذهبي لیکنې راځړېدې، په لرګینو تیرانو کې ځوندېو ټالونه ځوړل. غټ سړی کوټې ته راننوت، شمله یې سموله، ویې ویل: زه جومات ته ځم، زر راځم!

افغان ملګري مې بیا وریاده کړه، چې څوک زموږ له شتونه خبر نه کړي. سړي سر وښوراوه او لاړ. افغان ملګری پورته شه او خدای ته یې لمانځه. ما ته یې وویل: راپورته شه، راپسې تکراروه یې، کېدی شي چېرته دې په کار راشي.
خو زه ستړی وم او کرار څملاستم. باید ووایم چې افغان ملګري به د مجاهدینو په سمڅه کې هم د څښاک له اوبو یو څه اوبه ځان ته ذخیره کولې، وروسته به یې غړي ورباندې مینځل او بیا به یې خدای لمانځه...ویده شوی وم...

یو وخت افغان ملګري وښورولم، یو نوم یې راته اخیسته، فکر کووم (عبدالله) یې ویل. ما ته خندا راتله، پورته شوم. غټ سړی، چې نوم مې یې نه دی زده، زما پښو ته په توشک باندې ناست وو، زما لوري ته یې په رحم او مینه راکتل. یوه تقریباً دیارلس کلنه نجلۍ مې مخته له کوزې سره ودرېده، د لاسو مینځلو لوښی یې رابېرته کړ. د دغې ورې نجلۍ ښکلا اوس هم زما په زړه کې ښخه ده. تکه سپینه، توري سترګې؛ که څه هم غاړه یې خیرنه وه او له کالیو یې د ځناورو د خوشایو بوی ته؛ خو ښکلي مخ او ښایسته آندامونو یې د سړي ټول حواس هغه پلو وراړول. سترګې یې داسې کتابونه وو چې ما نشو لوستلی. په ټوله شوروي کې ما داسې ښکلا نه ده لیدلې، آن تر اوسه. زه احساساتي سړی نه یم او نه مې احساساتي خبرې خوښېږي، زه رښتیا وایم، له دېرشو زیات کالونه اوړي؛ خو هغه نجلۍ مې له تصور نه نه وځي.
اې افغانۍ نجلۍ! ته اوس هم هغه شان ښایسته یې؟





زه ډاډه یم، که ته ژوندۍ یې نو یوه ښایسته ښځه به یې؛ خو وخت به کرکه دربخښي.
لاسونه مې پرېمینځل، نجلۍ لاړه. سړي دسترخوان رابېرته کړ. له ډوډۍ نه تاو پورته کېده. د شودو چای وو، کوچ وو او د غوا غوړي وو، ملهم لګېدل. تر اوسه پورې ما له ډوډۍ نه هغه شان خوند نه دی اخیستی. غټ سړی له افغان ملګري سره په خبرو لګیا وو. ما ډوډۍ خوړه، کله، کله به غټ سړي په خاکسارانه ډول راوکتل.
پوهېدم چې افغان ملګري ګونګ ورمعرفي کړی یم. زه موړ شوم؛ خو زړه مې ویل نوره هم خوره!
غټ سړی د باندې ووت، افغان ملګري په خندا وویل: (عبدالله) څنګه یې؟
ما وویل: دا څه ډول یو نوم دی؟

افغان ملګري وویل: ته صبر وکړه، اوس به بل نوم هم کېږدم. دې سړي شل کاله کېږي چې واده یې کړی؛ خو نارینه اولاد یې نه لاره، شپږ لونې لري. څو ورځې مخکې یې زوی پیدا شوی دی. ډېر ورته خوشحاله دی، اوس یې راوړي، چې نوم ورباندې کېږدم، څو ورځې مخکې یوه ملا نوم ورباندې ایښی وو؛ خو ښځې یې ورته ویلي وو چې دا زما د تره زوی نوم دی، بده خبره ده، اوس نوی نوم غواړي. یوتیکوف څنګه دی؟

موږ دواړو وخندل. غټ سړي ماشوم راووړ، ټوټې یې تړې تاوې کړې وې. ماشوم شنې سترګې لرلې. غلی او ځیرک راته معلوم شو، ومې ویل، دی به موسیقي ږغوونکی یا لیکوال کېږي. افغان ملګري ښکل کړ، بیا یې ما ته راکړ.

سړي بې پایه خوشحالي احساسوله، په سترګو کې یې اوښکې ښکارېدې. دوه ورې نجونې په وره کې راولاړې وې، کاسو ته یې خړې سترګې نیولې وې. سړي په غوصه وروکتل، نجونې وتښتېدې. ماشوم مې په غېږ کې کلک ونیوه، کېدی شي حالت مې بدل شوی وي، نه پوهېدم؛ خو له سترګو مې اوښکې راولوېدې او په ګڼه ږیره کې مې ننوتې. ماشوم ته مې وکتل او بیا مې له ځانه سره وویل: ته په یو داسې ځای کې دنیا ته راغلی یې چې دوست او دښمن نه دی پکې معلوم، څوک چې تا ته ښوونځی او سرک جوړوي، له هغوی نه خلک کرکه کوي او څوک چې تا په تیارو کې ساتل غواړي، هغوی ته مینه ورکوي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم مې افغان ملګري ته ورکړ. یو نوم یې ورباندې کېښود، اوس رانه هېر دی؛ خو د (زمري) مانا یې ورکوله، فکر کووم. سړي ماشوم وېووړ او موږ له سترګیا څملاستو. سړي دروازه بنده کړه، موږ ویده شوي وو.

***

ماسپښین راویښ شوو. له باندې نه د نجلۍ چغه راغله. افغان ملګري له کړکۍ نه د کور انګړ ته وروکتل، ما ته یې وویل: دلته راشه!

زه ورغلم، هغه ښایسته نجلۍ د غټ سړي له لغتو لاندې وه، هغې چغې وهلې. نیم کمیس یې په شودو لوند وو، غوا په انګړ کې منډې وهلې، پړی یې په غاړه کې پروت وو او نیمه پښه یې په شودو ککړه وه. له چوترې لاندې سطل پروت وو، شودو مځکه لړلې وه. بله ښځه راغله، د غټ سړي مېرمن ښکارېده، نجلۍ یې راپورته کړه. غټ سړي په لاسونو خبرې کولې، لاړې یې بادولې، پټکی یې په خاورو کې پروت وو؛ خو غړ یې تر موږ سم نه راته. دوو نورو نجونو غوا له پړي ونیوله. له موږ پناه شول. غټ سړي پټکی په سر کړ او د کوټې په لوري راغی. افغان ملګري وویل: غرور به یې نه ورماتوو!

موږ بېرته په خپلو ځایونو کې پرېووتو او ومو ښودله چې ویده یو.

سړی راغی، په آرامه لهجه یې وویل: مجاهدینو پورته شئ، د ډوډۍ او لمانځه وخت دی،

موږ راپورته شوو، سړي دسترخوان راووړ، هماغې نجلۍ اوبه او د لاسو مینځلو لوښی راوړل، سړي په غوصه ورکتل. د نجلۍ تورې سترګې سرې اوښتې وې او شونډې یې لړزېدې.

افغان غټ سړیه، تا ته به ستا دغه لور ستا د اوږد عمر لپاره هیڅکله دعا ونه کړي، ته د خپلې لور د خولې ډوډۍ داسې چا ته ورکوې چې ستا په عزت او ستا په راتلونکي ملنډې وهي. ته شر او فساد روزې! افغانه ستا ټولنه د ظلم په بنیاد ولاړه ده او ظلم تلپاتې نه دی. د دومره ورو نجونو په مخ کې څوک د ظلم او کرکې یادونه هم نه کوي او ته تجربه ورکوې؟ تاسو زړونو ته د تېره کېدو تمرین ورکوئ! سمه ده...





ډوډۍ راوړل شوه، سړي ځان خجالته باله چې شودې یې را نه وړې. هغه ویل چې د شودو په ډک سطل کې غوا پښه ایښې وه. وریژې، غوښه او ښوروا وه، ما له افغانی غوښې سره مینه لرله.

غټ سړی له افغان ملګري سره ږغېده. ما ته معلومېده چې په یوه شي نه سره صلاح کېږي. په اخره کې غټ سړی غلی شو او ظاهراً داسې ښکاره شوه چې د افغان ملګري خبره یې ومنله. ډوډۍ وخوړل شول او غټ سړی لاړ. افغان ملګري وویل چې سړی غواړي موږ په شپه کې له کلي وځو.

ما ورته وویل: سمه خبره ده، موږ باید دشپې ووځو!

افغان ملګري وویل: سمه ده چې موږ به د شپې ووځو؛ خو فکر کووم، هغوی موږ نه پرېږدي، هر ځای لټول روان دي.

ــ نو ته څه فکر کوې، چې هغوی دلته هم راځي؟

ــ هغوی هر چېرته ځي.

ــ که موږ د ورځې ووځو، څه ستونزه ده؟

ــ غټ سړی وایي چې د ورځې د شورویانو او خلقیانو قوې ګرځي، هسې نه په ورپېښ شئ!

ــ آه...کم عقل غټ سړی...اوس به بیا اودس راباندې کوي؟

ــ نه، دا ځل غسل درباندې کوي، اوبه مې راوغوښتې، لامبو او د شپې ځو.

ځانونه مو ومینځل، تور خېري رانه روان وو. سړي ته مو وویل چې څوک زموږ له شتونه خبر نشي، بیا هغه لمانځه ته لاړ او موږ ویده شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغه زما سکه ورور وو !

موږ باید د ماښام له تیارې خپرېدو وروسته له کلي وتلي وی. همدغه ډول مو وکړل. کله چې غټ احمق سړی له لمانځه راغی، موږ ورته وویل چې ځو، کور ته لاړ. لږه شېبه وروسته راغی، په دوو پاستوکې یې د پسه غوښه تاوه کړې وه، ویې ویل: په لاره کې به یې وخورئ!
ما کور له نظره تېر کړ، بیا په احتیاط راووتو. ټول خلک خپلو غارونو ته ننوتلي وو. په بېړه، خو په احتیاط له کلي راووتو، چپ لوری مو پښو ته ورکړ، شا ته مو راوکتل، کلی د ویده لېوه په څېر ښکارېده. هر خوا ته ډار غالب وو او هر شی، هرشی خوړونکی ښکارېده. افغان ملګری مې تعقیباوه، هغه په مسخرو وویل: (عبدالله) راتېز شه!
ما وخندل، بیا یې وویل: قومندان صیب موږ باید راتېز شو، کېدی شي هغوی په کلي کې وي او د دوو تښتېدلو بندیانو پلټنه به کوي، کېدی شي غټ سړی هم په حقیقت پوه شي او په موږ پسې رامنډه کړي. موږ باید تېز لاړ شو!
ـ سم وایې! دا غرونه څومره کرکجن دي!
ـ کېدی شي دلته لېوان هم وي، آبادي کمه ده. داړونکي ځناور دلته د غرونو لمنو ته راکوزېږي، هغوی ډېر زورور دي، چې یو ځل څوک رالاندې کړي، بیا یې ترې خلاصی نشته.

افغان ملګری لګیا وو، ما وویل: په څومره وخت کې محفوظ ځای ته رسېدی شو؟
ـ له سپېدو چاودلو مخکې رود ته رسېږو؛ خو زه ډارېږم چې الوتکې مو له پاسه ونه ولي، هغوی به په موږ د آشرارو ګومان وکړي.
ـ ښه وایې، نو دې کالیو خو خپل کار وکړ ، لږې به یې کړو!

افغان ملګری غلی وو، تېز روان وو. غرونو ته ورنږدې کېدو. موږ باید نیم ساعت نور هم تېز مزل کړی وی، تر څو جنوب لوري غرونو ته ورسېږو. د غره په لمنو کې مو بیا د خطرونو سره مقابله کولی شوه؛ ځکه کولی مو شول ځان یو ځای پټ کړو، یو ځای مورچه ونیسو او ډزې وکړو. افغان ملګری په راتلونکي غرېده او موږ د غره د لمنې په لور روان وو. موږ وېره هم احساسوله او کله، کله به مو شا ته وکتل؛ خو هر څه ویده وو. د روانې جګړې آغېز په هر څه ښه پوره ښکارېده، آن د آسمان د ستورو د ځلا خوند هم نه وو. د پسرلي باد هم خولې لګولې،





یو بدرنګ غر یې پورته کېده، یو څو توري مې ترې تفسیرول(اې د پېټزا ګله، موږ دې رژوو، ځه او خپل وطن ته دې لاړ شه!)

افغان ملګري وویل: قومندانه وګوره، یواځې دوه کیلو متره لاره پاتې ده!

ریښتیا هم په تیاره کې له موږ تقریباً دوه کیلو متره وړاندې د افغاني پوځیانو قرارګاه ښکارېده. موږ د غره په سر ولاړ وو. افغان ملګري تېزه، تېزه ساه وهله. موږ کولی شول بې له وېرې ۱۵ـ ۲۰ دقیقې د غره په سر استراحت وکړو؛ ځکه موږ کولی شول د غره ټولې خواوې وڅارو او د اړتیا په وخت کې ډزې وکړو. موږ روان وو، ماښام، ماخستن او شپه هم په تګ تېره شوه، کله ورو، کله تېز، کله په ستړیو قدمونو ، کله په منډه؛ خو پرته له دې چې ودرېږو، همداسې په مخ روان وو، تر څو چې د شین پوښو عسکرو په پوسته مې سترګې خوږې شوې. د غره له سره مې د سر په اشاره انقلابیانو ته سلام ورکړ.

موږ د درې په منځ کې په تېرې شوې لارې ورهاخوا انقلابیان د خپل ستړي مزل منزل وباله.
شا ته مو راوکتل، هوار دښتونه او غرونه مو تر شا پرې ایښي وو. اوس د خطر په پېښېدو ډاډه نه وو او مطمین وو چې ساعت یو نیم ساعت وروسته به له انقلابیانو سره یو. کرار څملاستو او لویو پرښو ته مو ډډې ووهلې. ستړي او وږي وو. ما خپله برخه خواړه خوړلي وو. افغان ملګري په وچه ډوډۍ کې لږه غوښه تاو کړه او راېې کړه. د وږي ځناور په څېر مې په یوه وار له ستوني تېره کړه.

خپل ماضي ته فکر وېوړم. د ماشومتوب له یادونو نیولې، آن تر اوسه؛ هره شېبه مې تر سترګو تېرېده. یو وخت ماشوم وم، پلار مې ناروغ شو، درس مې هم وایه او کورني مصرفونه مې هم پوره کول؛ بیا ځوان شوم او حربي زده کړې مې شروع کړې، آیوانکه مې ولیدله او د ژوند خواږه وختونه پیل شول، بیا د شوروي او خلکو لپاره جګړې ته راغلم، خپله کورنۍ مې پرېښوده، خپل خواږه ملګري مې له لاسه ورکړل، په روحي ستونزو اخته شوم او له آیوانکې لرې شوم. د چا له لاسه؟ د افغانانو له لاسه.

ما یو ناڅاپه چغه کړه: یو افغان هم نه پرېږدم، زه د خپلو ملګرو غچ اخلم!
افغان ملګری غلی ناست وو او لویې پرښې ته یې ډډه وهلې وه، سترګې یې له خوبه ډکې وې. ما دا هېر کړي وو چې یوه افغان ته مخامخ ناست یم او ستونزې یې راسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګاللي. ما فکر کاوه چې هغه به بيا د تېر په څېر غلی پاتې شي او وبه وايي چې زه له تا سره يم؛ خو نه!

هغه، هغه څه وويل چې ما يې تمه نلرله او ټول عمر يې نه وو ويلي. هغه په ډېر ټيټ او خوږولي غږ وويل: او تاسو چې په زانګو کې واره ماشومان ووژل، د هغوی بدل به څوک اخلي؟ د خلکو مالونه او ناموسونه مو ولوټل، په ژونديو مو خاورې واړولې، له خلکو مو نوکان وباسل، د بدن غړي مو ترې پرې کړل او د خلکو راتلونکی مو تباه کړ...د دې خلکو غچ به څوک اخلي؟ آيا هغوی ستا په څېر کورنۍ، ملګري او هيلې نه لرلې؟

زه غلی او حيران وم، ډېر حيران؛ ځکه هغه څه مې اورېدل چې هيڅکله مې نه وو اورېدلي. په ډېره حيرانۍ مې وويل: دا ته څه وايې افغان ملګريه؟

هغه ستړی وو او خوب ورته، کرار يې وويل: زه ريښتيا وايم، تاسو خو موږ په وينو ولمبولو!...آه...کالي دې وباسه، اوس موږ له خطره لرې يو، هسې نه چې عسکر مو بې له خبرداري وولي.
بيا پاڅېد او په داسې حال کې (چې کالي يې باسل.) وويل: دا خاوره هيچا هم نه ده نيولې، نه چنګېز او نه انګرېز. د هر چا غرور دلته خاورې شوی. هر اوچت سر دلته ټيټېږي، که زما منې قومندانه، غچ مچ پرېږده، برستنې دې ټولوه او شوروي ته ځه؛ هسې نه لکه د نورو عسکرو غوندې ستا پتلون هم دلته پاتې شي.

زه حيران وم او په وازو سترګو مې افغان ملګري ته کتل، زما په خپلو غوږو باور نه راته، افغان ملګري بيا وويل: قومندانه کالي دې وباسه، کښته کېږه!
زما په بدن کې وينه وايشېده، هيڅکله مې داسې خبرې نشوی زغملی؛ ځکه مور مې راته ويلي وو(لومړی، شوروي) زه له خپله ځايه پورته شوم او افغان ملګری مې له ستوني کلک ونيو، يو بل دول حالت وو، په کرکه او غوصه مې وويل: ته څه ډول خبرې کوې، ټيټ فطرت انسانه؟
افغان ملګري زه پورې وهلم، يو مترورواندې ولوېدم، سر مې له پرښې سره کلک ولګېد، ويې ويل: ډېر مه غورېږه، درځه چې کښته شو!

ما له پخوا ډېر درد احساساوه، په وېښتانو کې مې د تودې وينې احساس وکړ، بيا راپورته شوم، غوښتل مې په يوه کلکه لغته يې په خېټه کې ووهم او لاندې يې





ورغړووم. افغان ملګري ځان ځنګ ته کړ، وروېي وويل: سرزوري مه کوه، کالي دې وباسه، کښته کېږه!
ــ زه دې وژنم!

افغان ملګری تريخ وموسېد، د ستورو تتې رڼا ته يې له سترګو رالوېدونکې اوښکې وځلېدې، په خاکسارانه انداز يې وويل: ومې وژنه! موږ خو ستاسو تېغ ته پيدا يو، هه واخله!...غږ يې بدل شو، په غره کې يې انګازې خپرې شوې...واخله! د ملګرو غچ دې له ما واخله، زه د خپل ورور غچ له چا واخلم؟...واوره قومندانه! تا چې په سمڅه کې په چا اورمېږ تاو کړ، هغه زما سکه ورور وو.

زړه مې ولوېد، دا غږ مې څو واره په مغزو کې تاو راتاو شو(هغه زما سکه ورور وو، هغه زما سکه ورور...) د افغان ملګري له خولې لاړې بادېدې او ږيره يې په تېزۍ سره ښورېده...يواځې تاسو د ژوند او غچ اخيستلو حق لرئ؟...پوهېدم چې د افغان ملګري احساسات يو بل رنګ خپلوي. په زړه کې يې د غچ راپارېدلي احساسات او په خوله يې سخته يادونه؛ کرکجنه وه، له غاړې مې بايد ټوپک راکوز کړی وی او کار مې ترې اخيستی وی. د غره له سره مې قرارګاه ته وکتل، برجونه يې روښانه وو، وررسېدو تقريباً يو ساعت مزل غوښت، ما نور د چا د ملګرتيا د اړتيا احساس نه کاوه. د ټوپک شپېلۍ د افغان ملګري سينې ته سيخه شوه. دا لومړی ځل وو چې په ماشه مې ګوته لړزېدله؛ خو کار يې پرېنښود. افغان ملګری تېز غږېده او له سترګو يې اوښکې بهېدې...ډز شو. افغان ملګري آخ کړل، په ځمکه ولوېد، څو تيږې هم ورسره ورغړېدې.
ما افغاني کالي وويستل، افغان ملګري سلګۍ وهلې.

افغان ملګريه ما وبښه! زه په ريښتيا سره متأسف يم. ما بايد د ژوندي پاتې کېدو لپاره داسې کړي وی، زه د افغانستان د شوروي کېدلو لپاره راغلی وم او بايد د خپلو ملګرو غچ اخيستنې ته تم شوی وی، زه له هر څه نه زيات شورويتوب ته لومړيتوب ورکووم. په خپله فکر وکړه، ما خپل ملګري له لاسه ورکړي وو او د غچ اخيستنې لپاره مې چې څوک بايد مخته راغلي وی، وژل؛ نو تا به د خپل ورور لپاره زه نه وژلم؟ ما وبښه! زه ستا هغه زحمتونه چې زما د خلاصون لپاره دې کړي وو او د خپلې خولې ډوډۍ دې له ما سره نيموله؛ نه هېروم. زه اوس هم ستا نوم په درناوي يادووم (افغان ملګری) چې زما د ژوندي پاتې کېدو لپاره يې د هغه چا وژنه وزغمله چې له يوه پلاره يې پيدا وو او له يوه تي يې شودې رودلې وې. افغان ملګريه، زه ستا وفادارۍ ته سلام کوم، ته په ما ګران يې! په هر حال...

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغان ملګري وروستی سلګۍ وې، زه بايد له غره راکښته شوی وی، خپل هغه ملګری مې پرېښود چې بې شمېره خاطرې مې ورسره وې. هغه په ډېره سختۍ په بنده، بنده لهجه راغږ کړل: قومندانه...له هغې...هغې بلې ډډې ورتاو شه!...
بې له دې چې وروګورم، د غره بلې ډډې ته تاو شوم او قدمونه مې چټک کړل...افغان ملګري په ستونزه راغږ کړل: قومندانه!...شوروي ته چې لاړې، خلکو...خلکو ته وايه...وايه چې افغانان وفاداره...خلک وو.
...او افغان ملګری د تل لپاره سوړ شو.



# شورويان په اسانۍ نه مري!

موږ بايد نه وی بېل شوي؛ خو د يوه نفر د مړه کېدو خبره وه، له دې وړاندې چې زه مړ وی؛ بايد هغه مې وژلی وی.
نه پوهېدم څه وخت دی؛ خو که د رڼا په آساس مې قضاوت کولی؛ نو سپېدو چاودلو شروع کوله. ټوپک په غاړه، په رسمي يونيفورم کې مې غرور احساساوه او د انقلابيانو په لور ورنږدې کېدم. د پښو لاندې مې تيږې رغړېدې. په واقيعت سره په افغان ملګري خپه وم او هره شېبه راته سترګو ته کېده.

(افغان ملګری ووژل شو. که پاتې وی، ستونزه يې راته جوړوله، په يوه نه يوه بهانه يې وژلم او د ورور غچ يې راڅخه اخيسته. ښه شو چې ومې واژه، ښه شو، که هر څه وو افغان وو او بيا په ځانګړې توګه پښتون وو. که په حقه يا ناحقه مې د هغه ورور وژلی وي، غچ يې راڅخه اخيسته، هغه مې د عسکرۍ په وخت هم څاره، يو ضدي؛ خو حوصله ناک سړی وو او...) کله مې چې فکر شو، نيمايي لاره مې وهلې وه، دغه ټولې خبرې مې له ځانه سره په لوړ غږ کړې وې.
له يو ګنده ذهني حالت سره مخ وم، ترې وتم؛ خو خوږونکي او ځورونکي فکرونه راسره څنګ په څنګ په منډو وو. ما هيڅکله نه غوښتل د هغه څه په باره کې فکر وکړم چې (بد) وو او شوروي ته يې ګواښ پېښاوه؛ خو خلک وايي (هغه څه چې غواړې يې، نه پېښېږي.)
زه په دې پوره ډاډه وم چې هغوی زما ښار پرې ايښی؛ خو له دې سره، سره به مې بيا هم شا ته وکتل. په سهارنۍ لړه او تازه رڼا کې هر څه تقريباً د ليدلو وړ وو. له لرې د چرګانو آوازونه راتلل او زه د انقلابيانو قرارګاه ته (چې د انقلابيانو بيرغ پرې رپېده.) ورنږدې کېدم، تر دې چې اوس په برجونو کې  ولاړ سرتېري ښکارېدل او کېدی شي په دغه تازه رڼا کې يې ما ته هم فکر رااوښته. زه تېز، خو محتاط تلم، د برجونو د سرتېرو له لوري د يوې لويې چغې په تمه وم.

که چېرې له ما سره افغان ملګری وی؛ نو بيا به کار بل ډول وو؛ هغه به په ډېره زړورتيا په افغانۍ ژبه ورچغه کړې وه (موږ دوستان يو!).

***

افغان ملګرو مې ښه هرکلی وکړ او له خبرو يې وپوهېدم چې ما له مجاهدينو سره مياشتې تېرې کړې دي. درېشـي مې وميـنځلـه، ږيـره، برېت مې وخرېيـل او څـو مياشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مې په آيينه کې وليدل. له پخوا مې ډېر فرق کړی وو، په مخ کې مې هډوکي ښکارېدل او سترګې مې تنګې شوې وې. زما څېره ببخي يوه بېچاره موسيقي ږغوونکي ته ورته شوې وه.

په سبا ورځ د څو افغان عسکرو په بدرګه په پوځي موټر کې د ګردېز قول اردو ته لاړم. د يوه داسې سړي په ډول مې فکر کاوه، چې له يوه اوږده تبعيد وروسته خپل هيواد ته راستون شوی وي. شورويان ملګري مې وليدل، هر يوه يې له روغبړ مخکې ويل: مورې خو ستاسو د مرګ خبرونه خپاره کړي وو.
(شورويان په آسانۍ نه مري!) ما وويل.

قومندان يوه شېبه په غېږ کې ټينګ نيولی وم. کېدی شي اوښکې يې تويولې؛ خو له ما يې د پټولو هڅه کوله. قومندان چای راوغوښت او د هغه په دفتر کې يو بل ته مخامخ کېناستو. هغه هم ويل چې مورې ستاسو د مرګ خبرونه خپاره کړل. د مېز په سر د ګوند بيرغ نيمکښته وو. ما د الکسي برخليک ورته ووايه او خپله کيسه مې هم ورته وويله.

له حيرانۍ سره، سره يې سترګې وځلېدې او په ملا يې وټپولم، ويې ويل: ته آتل يې!
بيا يې په داسې حال کې (چې د منفي ځواب په تمه وو.) وويل: ويلاديمير، کور ته ځې؟
ـ کېدی شي نه!...يقيناً نه!...بيا مې وخندل...مورې يو بل شوروي جمهوريت جوړوو!
د قومندان وړه، بې برېتو خوله هم خلاصه شوه، هغه خندل.

تر ډېره په رواني وضعې ورغېدو، بيا د خپل کاري مېز شا ته تاو شو، د مېز روک يې راکش کاوه او ويل يې: ستا په نامه څو خطونه راغلي وو، يو څو دې د پلار وو او له مسکو نه هم يوې پوځي ماموري يو خط رالېږلی وو... لټول يې... پوځي ماموره (آيوانکه) کېدی شوه او زه د هغې د خط په انتظار وم... قومندان(چې د ډګروال رتبه يې لرله.) څو خطونه (چې په تار تړلي وو.) د مېز له روکه راواخيستل او په داسې ډول يې رامخته کړل، لکه يو لوی احسان يې چې راباندې کړی وي. ما هم څومره چې په کار وو، مننه ترې وکړه. ما په ډېره لېوالتيا د ليکونو پاکټونه تر نظره تېرول. ډېری يې ساده پاکټونه وو، د دوی په منځ کې يو د ګلدار پاکټ لرونکی خط هم وو، د آيوانکې له لوري وو. که څه هم لېوالتيا مې ډېره وه چې د آيوانکې خط وګورم؛ خو د آيوانکې خط مې د يوې آرزښتناکې تحفې په څېر آخر ته پرېښود. لومړی مې د پلار او مور خطونه وليدل. د جملو جوړښتونه او د ليکونو ډولونه د پلار جان وو؛ خو خط مې د مور وو چې په بېلابېلو رنګونو يې کښلی وو.





هغوی په خپل صحت غږېدلي وو، بيا يې له ما غوښتي وو چې په ځوابي ليکونو کې د خپل صحت، دندې او د تېرېدونکو شپو، ورځو په اړه ورته وليکم. په يوه ليک کې مور خپل خپګان ظاهر کړی وو او ويلي يې وو چې بايد ورشم.

زه د ډګروال په دفتر کې ناست وم، کله مې چې د مور او پلار ټول خطونه وليدل، سګرېټ مې ولګاوه او په څوکۍ کې مې ځان ښه جوړ کړ. ډګروال زما لپاره د نوي پرسونل جوړولو په آسنادو لګيا وو... په ډېره حوصله او احتياط مې د آيوانکې د خط پاکټ سر څيرې کړ، ومې ويل هسې نه خط ته کوم زيان ورسېږي. ما يو وار بيا د پاکټ منځ وکوت، هسې نه چې کوم يادداښت پکې پاتې وي؛ خو پاکټ خالي وو. په خط کې يې پته مسکو ليکلې وه، فکر مې وکړ چې آيوانکه په مسکو کې دنده ترسره کوي، په هر حال...

ليک مې راواخيست او په لوستلو مې پيل وکړ، هغه ټول خطونه اوس هم له ما سره پراته دي او د آرزښتمندو شيانو په توګه يې ساتم.

هغې ليکلي وو...( د پسرلي د لمانځلو په موخه مورې رخصت شوي وو، څو ورځې مسکو ته لاړو. هغلته مې له ډېرو ملګرو سره وليدل؛ خو ستا کمی احساسېده او دغه احساس دې ليک ليکلو ته مجبوره کړم. د هغه چا په منځ کې (چې د خپلو رخصتيو په لومړيو کې ورسره وغږېدم.) داسې يو دوه کسان هم وو چې تازه د افغان له کرغېړنې جګړې راستانه شوي وو. هغوی هغه څه ويل چې تر اوسه به چا نه وي اورېدلي. که مورې د افغانستان يادوونه کوو او د ظلم په برخه کې په ويلو کې هر ډول خبره وکړو، مبالغه نه ده. دغلته (افغانستان کې) هر څه تر سره شول...
ته بايد هوښيار اوسې او د هرې پېښې پېښېدلو ته متوجه يې؛ ځکه په دې ډول کرغېړنه مځکه او جګړه کې له هر چا سره هر څه پېښېدی شي. ته د آدبياتو ټولګي ته نه يې تللی، جګړې ته تللی يې او داسې جګړې ته تللی يې چې زه او ته وړاندې په ږغېدلي وو.
که وخت دې پيدا کړ، ليک راولېږه!
راباندې ګران يې!
آيوانکه.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليک مې بيا ولوست، هسې نه کومه کلمه يا جمله رانه پاتې وي. سترګې مې سوځېدې، فکر کووم اوښکې پکې راغونډې وې. کله مې چې د ټولو ليکونو لوستل خلاص کړل، فکر مې وکړ چې د ځوابيه ليکونو ليکلو ښه وخت دی. ډګروال ته مې وروکتل. هغه د مېز تر شا ولاړ وو. چپ لاس يې په تشي ايښی وو او ښی لاس يې سر ته نيولی وو، څه شی ترې ورک وو او په اړه يې سوچ کاوه.
ما وويل: زما د مرګ خبر په شوروي کې زما مور او پلار ته هم رسېدلی دی؟
قوممندان يو ناڅاپه متوجه شو، ويې ويل: آه؟

ما بيا خپله خبره تکرار کړه، هغه وويل: هيڅکله نه! کله چې څوک بې درکه شي، يا مړ شي او جسد يې لاس ته رانه وړو؛ په اړه يې کورنۍ ته خبر نه ورکوو!
ــ سمه ده!
ما د دوو خالي پاکټونو او کاغذونو غوښتنه وکړه او د ليکونو په ليکلو مې پيل وکړ: لومړی پلار او مور او بيا آيوانکې ته. يواځې يو، يو ليک مې ورته وکيښ. قوممندان ته متوجه شوم، د آسنادو په برابرولو لګيا وو او کومه عشقي سندره يې زمزمه کوله. هغه يو ډېر ټوکي او تېرېدونکی سړی وو؛ خو د جګړې په ډګر کې بيا برعکس.



## د بې وسه افغان چاودې پښې!

له خپلو نويو ملګرو سره(چې د نومونو پرته مې يې د نور څه په باره کې معلومات نه لرل.)، د کوښ جګړې ته روان شوم. له موږ سره افغانان هم وو، چې د هغوی له ډلې يو برېت خرېيلی ژباړن هم وو، شنې سترګې يې لرلې او يوه روسي ته ورته وو. موږ د يوه جوړ شوي پلان له مخې هلته نه تلو، يواځې مو د ټاکلي ځای نقشه راسره واخيسته او په څو پټۍ داره ټانګونو او يوه زغره وال ګاډي کې د زرمت په لاره کوښ ته روان شوو. کوښ له ګردېز قول اردو نه لوېديځ لوري ته يواځې په څو کيلو متری کې پروت وو. دغه ساحه د ځدرانو آشرارو(چې قومنده يې د جلال الدين حقاني په غاړه وه.) له لاس لاندې وه. څارګرو معلومات راوړي وو چې له دوی سره څنګ په څنګ بهرني جنګيالي هم د شورويانو او ملاتړو په ضد يې جنګېږي. افغان مجاهدين د دې تر څنګ چې ويل يې، موږ يواځې په ځان تکيه لرو، بيا يې هم پردي سخت دريځي بارسومانان(د شورويانو له لوري مسلمانانو ته تحقيري کلمه) افغانستان ته راوستل، په کورونو کې يې پناه ورکوله او د جهاد تر نامه لاندې يې جنګول. په هغوی کې ډېر تکړه ډاکټران او اينجنران هم موجود وو، چې ډېری يې د منځني ختيځ او پاکستان هيواد وو. افغانانو ويل چې موږ شوروي ته په يو ټوپک او کوټک ماته ورکوو او ماته مو هم ورکړه. له هغوی نه به مناسبه وي چې وپوښتل شي (د ستېنګر مزايلو فابريکې د افغانستان په کوم ولايت کې وې، ننګرهار، لوګر يا هرات کې؟) هيڅ چېرته! آشرارو د نفتي شېخانو په تېلو اور بلاوه، آمريکايی وسلې يې ډزولې، انګرېزي نړيوال تبليغات ورته کېدل او پاکستانيانو په مکارو سترګو قرآن (کريم) ورته ژباړه. ټوله نړۍ شوروي ضد وه.

موږ په لاره په خپل راتلونکي يرغليز بريد بحث کاوه. افغانانو زياته ونډه اخيسته. افغان ژباړن يې په ډېره مينه، لېوالتيا او خوږه ژبه خبرې ژباړلې. زما فکر يې له لومړيو ځان ته اړولی وو.
زموږ هدف دا وو چې د روحاني بابا له لوري د کوښ او آغزن غرونو ته د شا له لوري راوګرځو او د هغو توپونو دستګاوې ونړوو چې عامه خلکو ويل(دا غيبي توپونه دي او خدای يې راتوغوي.)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معلوماتو له مخې له دغو غرونو په ورځ کې دوه، درې ځلې دوه يا درې توپونه توغول کېدل. سهار، ماښام يا مازديگر. ږنده ښځه يې لرله او ډېرى وخت يې قربانيان ملکيان وو او عامه ځايونه يې نړول.

د دغو خبرو په دوران کې ما دوو افغان ملگرو ته (چې په زغره وال موټر کې له ماسره ناست وو.) فکر کاوه، د هغوی ځېرو خاکسارانه ښځه خپله کړې وه او زه پوهېدم چې هغوی لا هم روحانيت ته عقيدت لري.

ما ويل: بې له دې چې په لاره کې ځانونه ښکېل کړو، مستقيماً په دستگاه بريد کوو!
خو افغان ملگرو ويل چې نه، له تر ټولو لوی خطر موږ ته په لاره کې متوجه دی. په دغو غرونو کې د آشرارو لوی مرکز دی او آشرارو يې د امنيت لپاره ځای، ځای پيرې دروليې دي.
ما وويل: نو بايد...
ــ بايد يوه ډله په لاره کې آشرار بوخت وساتي او بله دې له موقع گټه واخلي او مخ په وړاندې دې لاړه شي؛ داسې به هر څه ښه پای ته ورسېږي.
ــ که موږ دوه ځايه بوخت واوسو؛ نو کېدی شي جگړه سخته شي.
ــ کېدی شي؛ خو امکان يې کم دی، موږ به په حوصله او قوي مُرال وړاندې ځو!
ــ سمه ده: خو موږ بايد همغږي واوسو، د يو بل مرستې ته مو اړتيا پيدا کېږي.
په دې ډول نو پلان ورو په ورو جوړېده او موږ په کنډو کپرو لارو باندې جگړه يېزې ساحې ته تلو. هر لوری خړ، پړ وو. په ټوله مځکه د کرکې خړ کرد پروت وو. په ځينو ځايونو کې د شنو ونو ځانگې هم له دوړو ډکې وې. زموږ شوروي ورونو چې هغلته کوم پلونه د لارو په سر په خوړونو جوړ کړي وو؛ افغانانو هغه نړولي وو او يواځې يې د کانکرېټ له ماتو برخو ښکارېده، چې دلته يو وخت پل وو او افغانان پرې تلل، راتلل...

موږ وړاندې تلو، په خپله بريا باندې يقيني نه وم؛ ځکه له ما سره په ډله کې ټول ۱۸ ـ ۱۹ کلن ځوانان وو او يواځې يې د ټوپک د پورته کولو توان لاره.

موږ له داسې خلکو سره جگړه کوله، چې جگړه يې ورځنی ضرورت باله او خوند يې ترې اخيسته. د خپلو نورو قوماندانانو په اړه څه نه شم ويلی؛ خو که د خپل ځان په اړه ووايم؛ نو ما په افغانانو باندې ډېره تکيه کوله. هغوی يواځې دومره غوښتل چې په ملا وتېپول شي او ورته وويل شي چې آتل دی آتل! بيا نو جگړه دوی ته پرېښودل





کېده، په ډېر ښه شان سره يې مخته وړه او د خپلو افغانانو په وژلو ډېر ښه پوهېدل. موږ (شخصاً زه) د داسې پېښو شاهدان هم يو (يم) چې افغانانو به شخصي بدی هم په رسمي يونيفورم او د مجاهدينو د نامه لاندې سره پاللې. بيا خو يې چا پوښتنه هم نه کوله چې څوک، چا ووژل؟

دوی ته خبر ورکړل شوی، که څنگه؟ مقاومت نه پيلوي.(ما وويل)
افغان ملگرو وويل: د داسې پېښو نه هر څوک ژر خبرېږي.
ــ آه... افغان ملگرو، تاسو هيڅ شی نه حيرانوي!

موږ آغزن ته رارسېدلي وو، يوه شېبه ودرېدو. زه له موټره ورکښته شوم، افغانان هم راپسې راکښته شول. هره خوا آرامي وه او وړوکی خړ کلی يوې ستړې چوپتيا رالاندې کړی وو، آن د ژوند يوه کوچنی نښه هم نه ښکارېده. له دې سره، سره چې آرامي وه، ما د يوې سختې جگړې وړاندوينه وکړه. يوه شېبه آرامي وه؛ خو وروسته مو د افغانانو له قهره ډکې چغې واورېدې، موږ وارخطا شوو او ومو ويل چې په دام کې ولوېدو. موږ وغوښتل چې ژر تر ژره خپلو موټرو ته پورته شو او د دفاع لپاره ډزې وکړو؛ خو اوس ډېره ناوخته وه، افغانان له خپلو غارونو راوتلي وو او موږ يو ځل بيا د هغوی په لاسونو کې گېر وو. هغوی له موږ راچاپېر شول او د وړو لېوانو په څېر يې موږ ته راکتل، تنکيو شورويانو چغې وهلې...

له دې سره، سره چې ډار شوي وو، دې خبرې ته حيران وو چې له هغوی سره هيڅ وسله نه وه. د هر يوه سره په لاس کې يو، يو موټی وړې تيږې وې، ټانکونه يې پرې ويشتل او (الله اکبر) نارې يې وهلې. ما امر وکړ(ټول وولئ!)

د ټانکونو په سر د وبلېږ دهشکو او د پوځيانو د ټوپکو نلونه د راپارېدلو افغانانو سينو ته ورواوښتل. يو ناڅاپه ډزې شوې او قهرېدلي افغانان په سرو وينو کې لت پت په يو بل پسې په مځکه پرېوتل. د شورويانو له خولو بې اختياره چغې وتلې او لاړې يې بهېدې. آرامي شوه او هيڅ داسې نه شول ويل کېدی چې دلته شېبه وړاندې څه خبره وه. موږ د نورو احتمالي بريدونو وړاندوينه هم کوله.

افغان ملگری يوه شي ته متوجه وو. له موټره يې ټوپ کړل او يوه افغان ته(چې وروستی سلگی يې وهلې.) ور منډه کړه، زه هم ورکښته شوم. افغان اووړده ږيره لرله او پټکی يې په خاورو کې پروت وو، شونډې يې سپينې اوښتې وې. هغه په بنده، بنده ژبه يو څه ويل، افغان ملگري يې خبرې راژباړلې: دوی ته قوماندان دا تيرې ورکړې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پير صاحب دم کړې دي او هره تيږه د دې ورتيا لري چې د ټانک له پولادي اوسپنې پورې ووړې ووځي او يوه چاودنه رامنځ ته کړي.
آخ افغانانو! په يوه کوچنۍ تيږه هم ټانک الوځي؟ دا نو کوم منطق مني.
افغان وويل: نور څه نشي ويلی، کيسه به يې ورختمه کړو!
هغه د افغان سينې ته ټوپک ونيو؛ خو ما يې مخنيوی وکړ او ومې ويل: نه! دا بايد په بل شکل ومري.
د لومړي ټانک چلوونکي ته مې امر وکړ. هغه ټانک راتاو کړ؛ خو يو څه صبر کولو ته تماوه.
ما په زوره او قهر چغه کړه: حتی که لاس دې هم ولړزېدل، شوروي ته وفادار نه يې او د خيانت په جرم دې سر درغوڅووم!

د ټانک له سايلنسره لوګي ووتل او حرکت يې شروع کړ. ټولو عسکرو سترګې پټې کړې او څوک چې د ټانګونو په سر دهشکو ته ولاړ وو، ننوتل. يواځې ما، چلوونکي او افغان ملګرو صحنه ليدله. د ټانک چپه پټۍ د افغان پښو ته سيخه شوه، دوه متره فاصله يې لرله. افغان ټول قوت راټول کړ، چغې يې کړې او د راپورته کېدو هڅه يې کوله؛ خو افغان ملګري ټينګ نيولی وو او حرکت ته يې نه پرېښوده. ټانک يو متر ورنږدې شو. د افغان لوڅې، چاودې او خيرنې پښې لړزېدلې او مخ يې له قهره سور اور اوښتی وو. نيم متر...اوس مو د ټانک له ګړزا سره د افغان د هډوکو د ماتېدو ږغ هم اورېده. افغان چغې وهلې... ملګري شېبه په شېبه صحنه څارله او افغان يې ټينګ نيولی وو. افغان ته د ټانک چپه پټۍ تر زنګنو وررسېدلې وه. هغه په دواړو لاسونو د ټانک پټۍ نيولې وه او د لرې کولو هڅه يې کوله؛ خو نه کېده، پټۍ تر خېټې وررسېدلې وه او افغان يې تر نامه له مځکې سره سريښ کړی وو. يوه شېبه يې د پښتۍ هډوکي ورمات کړل او بيا تر سره ورورسېد. د افغان سر د يوې لويې هندوانې په څېر وچاود او وينې او ماغزه يې يو لوری بل لوری خپاره شول. ټانک تېر شو. هغه وجود، چې څو شېبې وړاندې يې د غرور چغې وهلې، اوس داسې پروت وو لکه پلستر شوی دېوال، چې د ګوند د بيرغ رنګ ورکړل شوی وي. ټانک ودرېد. عسکرو سرونه راپورته کړل؛ خو هيڅ يوه افغان ته د ليدلو جرأت نه لاره. د ټانک نيمايي پټۍ په وينو سره وه.
ما وويل: وړاندې ځو!
... او روان شوو.
کېدونکو پېښو او سلوک ځوانکي شورويان مضطرب ول او په سترګو کې يې له پخوا زياته کرکه ښکارېده؛ خو مور بايد دا هر څه کړي وی؛ ځکه چې جګړه وه، بايد مخ





ته مو وړې وی، خپل غچ مو اخيستی وی او د لويې شوروي او انقلاب بقا مو تضمين کړې وی...

موږ د حرکت په حال کې په دوو ډلو ووېشل شوو. په لومړۍ کې زموږ زغره وال ګاډی وو چې يو ټانک هم راسره مل وو. دوهمې ډلې موږ تعقيبولو او د اړتيا په وخت کې يې موږ ته پوښښ راکاوه. شل يا دېرش دقيقې مو په خړه دښته کې مزل وکړ. لوړو غرونو ته له بلې ډډې راتاو شوو. دښتې حشرې په مځکه پرتې وې او نرم لمر ته يې يو ځانګړی د څملاستلو آنداز خپل کړی وو. موږ اوس په يوه خړه دره کې(چې د ضرورت په آندازه يې اوبه هم لرلې.) روان وو. له غرونو نه د احتمالي ډزو او په لارو کې له کرل شويو ماينونو نه ډارېدو؛ خو بيا هم وړاندې تلو او خپل هدف ته نږدې کېدو.

زاړه کمونستان موږ په جګړو کې ښکېلوي، دغو کارونو ته موږ هغوی راکش کوي. (ما وويل) ماشوم او تنکي زلمي شورويان چې اوس يې بايد زلفې لوبولی؛ ګوتې يې په ماشو وې او هره شېبه له روحي ستونزو کړېدل.

موږ مختته تلو او ما د افغان ملګرو سترګې څارلې، هغوی عادي وو؛ خو شوروي ملګري افغانستان ته په راتلو پښېمانه ښکارېدل. ما ليدل چې شوروي ملګري په ځان د رسمي يونيفورم دروندوالی احساسوي او په ځان کې د دې جګړې د لوبولو توان نه ويني، ما داډ ورکاوه او پلان مې جوړ کړ چې د توپونو په جګړه کې هغوی ته زياته ونډه ورکړم، تر څو هغوی له جګړې سره بلد کړم؛ ځکه موږ فکر کاوه چې دا جګړه به تر هغې روانه وي، چې تر څو زموږ زامن او لمسيان د جګړې جوګه شي.

موږ نور پورته نشو ختلی. مخکېنۍ ډله (چې موږ وو.) له موټره راکښته شوو او په غره ورپورته کېدو. ما غوښتل د دغه ماموريت دېره برخه د زلميو شورويانو په لاس کې ورکړم؛ ځکه مې هغوی ته څلور يا پنځه متره فاصله ورکړه او د يوې کړۍ په ډول مې په غره وروخېژول. موږ کرار تلو او هره شېبه مو د جګړې د پېښېدو اټکلونه کول. ما غوښتل دا راتلونکې جګړه تصور کړم؛ خو له هرې خوا راته متوجه خطر دې ته نه پرېښودم، چې له حال نه په غير په بل څه فکر وکړم. شورويان له خپلو آروايي ناآراميو سره وړاندې روان وو او پېښېدونکو پېښو ته يې پوره چمتووالی ښوده. هغوی ټولو زه په ځير څارلم او دا په ځير څارل د هيڅ ښې خبرې نښه نه وه. اوس مزل يو څه سختېده. موږ په غره پورته ختو. هلکانو ټوپکونه مخ ته نيولي وو او وړاندې روان وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور هغه ځای محاصره کړی وو، چې په نقشه کې په نښه شوی وو او همدا نښه شوی ځای هغه ساحه وه چې توپونه ترې راتوغول کېدل. هلته له رسېدو سره مو د هاوان له دوو پایو پرته نور هیڅ ونه موندل؛ خو ولې داسې ډېرې نښې وې چې ګواهي یې ورکوله (تر لسو کسانو پورې دلته پاتې کېدل.) یوه تقریباً لویه سمڅه (چې ګومان مو کاوه، همدا اوس جوړه شوې.)، دسګرېټو څو تشې قوطۍ، د امریکایي چاکلېټو تش پاکټونه او یو د اور بلولو نغری؛ دا شیان مور ته په لاس راغلي وو. یقیناً هغوی ته خبر ورکول شوی وو، تښتېدلي وو او بې مقاومته یې سیمه پرې ایښې وه. زموږ تنکي شورویان د آمریکایي د مونګ پلي لرونکو چاکلېټو پاکټونو په لیدلو ډېر حیران وو. شورویانو له افغان ملګرو سره یو ځای سمڅه په بمونو والوځوله او راوېې نړوله. مور د هاوان پایې له مځکې راوباسلې او بېرته روان شوو. شوروي ملګرو هیڅ ښه احساس نه لاره؛ خو چې مور بې مقاومته خپل هدف ته ورسېدو، د پخوا په پرتله یې لږ رنګونه وغوړېدل. مور موټرو ته ورپورته شوو او خپله دوهمه ډله مو تعقیب کړه او په هغه لاره روان شوو چې پرې راغلي وو. د لومړني مقاومت په سیمه کې د افغانانو مړي نه وو او مور یوازې هغه وینې لیدلې وې چې مور توپې کړې وې.



# څوک باید ډایري ونه لري !

لمر زما په مخ لګېده، زما په سترګو او پښو. کله مې چې پورته وکتل؛ نو له خړو بامونو هاخوا غونډۍ راښکاره شوې، چې لوړ، لوړ غرونه هم ورسره ولاړ وو. لمر په مخ نرم لګېده. خپل عسکري بالاپوښ مې وکیښ او د پوستې په دېوال مې واچاوه. زه په فنري کټ پرېوتم او له کلونو، کلونو وروسته مې بې پایه آرامي احساس کړه، چې له هرې شېبې مې یې خوند اخیسته. ما هڅه کوله چې خوب رانشي؛ خو بانه به مې سره ورغلل.

مور څومره یو خوا بل خوا ګرځو؛ خو د یوه شي هم ښه نتیجه نه راوځي. آخر به څه پېښ شي؟ آیا زموږ روبلونه به په اوبو لاهو شي؟ یا هو، یا نه! په ما یې پروا نشته، زموږ مشران له مور نه هوښیار دي، هغوی زموږ په اړه پرېکړه کوي...

ځوان شوروي (نوم یې اوس رانه هېر دی؛ خو د ضمیر د تکرار د مخنیوي لپاره به یې نوم سرګي یوتیکوف وټاکو.)دا هغه ځوان وو چې زما په وینا یې افغان له ټانګ لاندې کړ. د لمر له وړانګو تنګ راغلی وو، د زغره وال موټر ټایر ته یې تکیه وهلې وه، یوه پښه یې غځولې وه او د ورځنیو یادداښتونو په پاڼو کې د څه شي په لیکلو بوخت وو. دې خبرې هیښ کړم، دومره، چې په کټ کې نېغ کېناستم. دا یو متضاده کړنه وه. باید زه حیران شوی وی. له دې سره، سره چې خوب مې سترګو ته نېغ ولاړ وو، راپاڅېدم او د سرګي په لور ورغلم. په لاره کې مې له ځانه سره وویل: ځوان په وبا کې مینه کوي.

...او ورورسېدم. ځوانکی عسکر د احترام لپاره ودرېد او دقت یې وکړ. د پاڼو پټولو هڅه یې ډېره په زړه پورې وه، کله یې چې دواړه لاسونه د دقت او احترام لپاره په ځان پورې سرېښ ونیول، کاغذونه یې (چې د یوې کتابچې بڼه یې لرله.) په کمربند کې ومنډل. ما ته یې کتل او په سترګو کې یې لوستل کېدل(قومندانه! ته به کله ځې؟)
ما له خاورو قلم راپورته کړ، بیا مې وویل: هغه کاغذونه راکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوانکی مضطرب شو او ویې ویل: کاغذونه؟ کوم کاغذونه؟ صاحبه له ما سره کاغذونه نشته.
په جدیت مې وویل: دا یو امر دی!

سرګي، له دې سره، سره چې نه یې غوښتل ما ته کاغذونه راوسپاري، خپل شاخوا ته یې لاس تېر کړ او له کمربنده یې پنډه توره کتابچه(چې د څرمنې پوښ یې لاره.) راواخیسته. د هغه لاسونه لړزېدل او څېره یې لا پسې ژېړېده. ما کوښښ کاوه د هغه حالت عادي وساتم؛ خو د هغه تعادل ساتل ډېر ګران وو. د محرمو لیکنو له افشا کېدو وروسته یې یوې لویې جزا ته فکر کاوه او هیڅ نه پوهېده چې ده ته څه انتظار لري؟

زه لاړم او په کټ کېناستم، کتابچه مې پرانیسته. لسګونه کلونه تېر دي، ځوانکي سرګي په کتابچه کې ډېر یاداښتونه لیکلي وو، ما ته یې هر یو نه دی په یاد، یوازې څو جملې مې په یاد دي. هغه د یوه میاشت وړاندې عملیاتو (د توپونو د جګړې) په اړه لیکلي وو: (کله چې د بې وسه او راپارېدلي افغان چاودې پښې زما د ټانګ اوسپنيز ځنځیر ته قات شوې او د هډوکو د ماتېدو ږغ او سوې چغې مې یې واورېدې؛ نو ما له ځان سره وویل چې موږ دې هیواد او دې خلکو ته سوله نه راوړو، موږ ښکېلاکګري او مستبدین یو، موږ ډېکتاټوري قایموو او له لویې شوروي پرته موږ ته نور هیڅ هم آرزښت نه لري.) ځوان نور هم ډېر شیان لیکلي وو؛ خو اوس مې په یاد نه دي. د کتابچې په یوه پاڼه یې په ډېره کرکه لیکلي وو(مرګ د شوروي په مشرانو!) دا جمله یې درې ځله لیکلې وه او په دومره کرکه یې لیکلې وه چې تر څو پاڼو یې د قلم د شدت نښې ښکارېدې. هغه د کتابچې په پوښ لیکلي وو( زه نه پوهېږم څه آرزو لرم؛ خو غواړم دنیا یو ښه ځای وي.)

ما هغه ته وروکتل، د یوه مجرم په څېر ولاړ وو، زه هغه ته ورغلم. هغه د کرکې په انتظار وو. زما په وررسېدو یې بڼه بدله شوه او په حیرانتیا یې وویل: قومندان صیب، اوښکې...ستا په سترګو کې اوښکې دي؟





اووو زما خو ځان ته هیڅ فکر نه وو، هیڅ د حیرانتیا خبره نه ده؛ سرګي باید حیران شوی وی؛ ځکه د یو داسې چا په سترګو کې یې اوښکې لیدلې، چې په زړه کې یې رحم وچ وو او په ژوندیو افغانانو یې ټانګونه خېژول. ما په جدیت وویل: تا دا هېر کړي دي چې څوک یې!...سرګي غلی وو...ته د لویې شوروي له نامه لاندې جګړه کوې او دا جګړه به تر هغه وخته روانه وي، تر څو زموږ زامن او لمسیان د جګړې جوګه شي.
کېدی شي هغه د ویلو لپاره ډېر څه لرل؛ خو نه یې شول ویلی. د وروسته کېدونکو پېښو په انتظار وو؛ خو دومره د اندېښنې وړ خبره نه وه، آساني پېښېده. په جدیت مې وویل: زما په عسکرو کې یوه ته هم اجازه نشته چې ډایري ولري.
ځوان سر وښوراوه او په یوه تراټ ولاړ. همهغه شېبه مې ډایري اور ته وغورځوله؛ ځکه ما نه غوښتل دغه ډول فکر شوروي ته انتقال شي؛ خو زه ډېر ناپوه وم. لس، شل د قیقې وروسته ټول پوه شول چې که څه هم د افغانانو په وژنه پابندي نشته؛ خو په اړه یې په لیکلو پابندي شته او له دوی سره بیا هغه څه پېښېدی شي، چې باید پېښ نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بس دی، مورږ نور وځو !

ورخې، شپې هغه شان تېرېدې، لکه څنګه چې پخوا تېرېدې؛ خو جګړه د تېرو کلونو په پرتله ډېره سخته او پېچلې شوې وه. په افغانستان د آمریکا د وسلو سېلاب رااېله وو او د نړۍ او پاکستان تبلیغاتو لا زور اخیستی وو. په زرګونو افغانان په پاکستان کې اکمالېدل او بیا به له بارې دې غاړې رااوښتل. مورږ له شوروي ضد نړۍ سره لاس او ګرېوان وو؛ خو همت مو نه بایله. سره له دې چې افغانستان ته د شوروي د لومړیو عسکرو له ننوتلو سره سم د ملګرو ملتونو شورى د شوروي په ضد پرېکړه لیکونه تصویبول؛ خو هغوى هغلته پښې خښې کړې وې او ټولې نړۍ ته ورتر غاړې وتلې وه؛ خو وروسته شورویان هم په دې پوهېدلي وو، چې په یوه داسې جګړه کې ښکېل دي چې پایله نلري او ورځ په ورځ نور رنګونه خپلوي.

شوروي ته په خلتو او تابوتونو کې د مړو عسکرو د خبرو پټول هم ګران شوي وو. د افغانستان د رهبر، د طب ډاکټر نجیب الله څخه هم لاره ورکه وه او نه پوهېده چې په داسې وخت کې سړى څه کولی شي؟
هغه په ډېر شوق سره سټېج ته راته او هغه څه یې ویل  چې عامو افغانانو ته په زړه پورې وو.

دا د ۱۹۸۷ نیمایي وو، مورږ نه پوهېدو چې جګړه نوره څومره پسې غځېدلی شي؟ خو که هر څومره وغځېږي، پایله به یې نامعلومه وي.
ابهام به له جګړې سره مل وو؛ خو نړیوال شوم اهداف ورو،ورو راڅرګندېدل او په افغانستان کې د پردیو هیوادونو پټې لاسوهنې ورو، ورو افشا کېدې. مورږ واړه افسران او واحدونه له دغو خبرو دومره نه خبرېدو. مورږ ته امرونه راتلل او له (ولې) ویلو پرته مو اجرا کول.

د ۱۹۸۶ په پسرلي کې په کابل کې دا فکر  منځ ته راغی چې ببرک کارمل د انقلابي بهیرونو سره مرسته نه، بلکې د هغوی مخنیوی کوي. دغه فکر هغلته پوخ شو او تر مسکوه هم وغځېد؛ هغلته د ببرک کارمل له واکه د کښته کېدو نظریه منځ ته راغله، قوي شوه او  موافقه ورسره وشوه. زمورږ کمونستانو افغانستان ته یو نوی تکړه شخص پیدا کاوه. ټول په فکر کې وو. آخر یې د افغانستان د استخباراتي ادارې (خاد) په مشر نجیب الله صلاح راغله او هغه د ۱۹۸۶ په





(مې) میاشت کې د افغانستان د خلکو د ډیموکراتیک جمهوریت مشر وټاکل شو. زمورږ غوندې ټیټ رتبه خلک هم پوهېدل چې نوی رهبر نجیب الله غواړي چې د افغانستان په کورني سیاست کې بنسټیز بدلونونه رامنځ ته کړي او دا یې یو ضروري کار باله. هغه غوښتل، د اقتدار له لوري له مذهب سره کلکې تړېګنۍ پای ته ورسوي او له دوی سره په جګړه کې په ښکېلو ډلو زور راوړي تر څو خبرو ته چمتو شي، کرېملین د دې نظرېې خلاف نه وو؛ ځکه چې بله لاره نه وه او د جګړې له لارې د دغه ناورین پای ته رسول ناممکنه خبره وه. نجیب ویل چې په افغانستان کې له دېرش زرو نه زیات کلي موجود دي او د دې له ډلې یې یواځې اته زره د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت ملاتړ کوي. ده پړه په خپل ګوند اچوله چې تر اوسه یې له ښاره د لېرې کلیو کارګرانو او بزګرانو ته د انقلاب اصلي اهداف او ارزښتونه نه وو ورمعلوم کړي. هغه ویل چې د افغانستان په ډیموکراتیکه خاوره اوس اوس له پنځه زره زیاتې وسله والې ډلې فعالیت لري چې د غړو شمېر یې له یو سل او آتیا زرو تنو اوړي او له دې ډلې نه اتیا زره تنه انقلاب ضد خلک دي. ملګری نجیب په دې باوري وو چې بنسټپالي مذهبي مشران به هیڅکله خبرو ته غاړه کېنږدي.

شوروي مشرانو له ۱۹۸۶ وروسته روانې جګړې ته له بلې زاویې کتل شروع کړل. هغوی فکر وکړ چې اوس شورویان د دغو خلکو نه دي په کار. امکان نه وو چې له داسې یوه هیواد دې (چې د ژوند کولو ځانته کلتورونه او مذهب ولري.) شوروي جمهوریت جوړ شي. شورویانو قطعي ویل:
بس دی، مورږ نور وځو!
خو بهانې نه پیدا کېدې. مورږ باید خپل غرور هم نه وی مات کړی او د خپلو پوځیانو د وژلو مخه مو هم نیولې وی.
تلل، یواځې تلل؛ که په هره لاره وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د غابني جګړه

د همدغه کال (۱۹۸۷) له منځه وروسته پکتیا او په خاصه توګه د پکتیا لویه ولسوالۍ (خوست) د آشرارو د سختو ګوزارونو او ډېر نفوذ لیدونکي وو. افغان او شوروي مشران له دې کبله پرېشان وو. د ګردېز ـ خوست لویه لاره د آشرارو په لاس کې وه او د خوست لویه ولسوالۍ ښاري کلابندۍ ته نږدې شوې وه. ټول ښاریان د خوراکي توکو او تېلو له کمښته سره مخ وو. ډېرى وخت هوايي ځواکونو دغه ښار ته خوراکي توکي وروړل؛ خو له دې سره، سره موږ نشول کولى د عامو افغانانو زړونه خپل کړو. یو وخت بیا داسې هم راورسېد چې هغوی ته له هوايي لارو نه هم د توکو رسول ناممکن شول.

خوست ته لاره د پکتیا په ځدرانو تېره وه، چې د ستو غابني دواړو غاړو ته مېشت وو، ځدران د افغانستان تر ټولو ځېږه او خطرناک خلک دي، د تاریخ په اوږدو کې یې هیڅ حکومت ته غاړه نه ده ایښې. د ځدرانو وسله والو مشري د جلال الدین حقاني په غاړه وه. ستو غابنی له خپل ډېر لوړوالي سره(چې درې زرو مترو ته رسېده.) د ځدرانو وسله والو ډېر ښه مرکز ګڼل کېده، چې د نښترو او چلغوزو لوړې، لوړې ونې یې هم لرلې او د دوی پټېدو ته یې زمینه برابروله. د افغاني مشرانو له بیا، بیا او جدي غوښتنو وروسته د شوروي قومندانانو د شوروي او افغان عسکرو د ګډو عملیاتو نقشه جوړه کړه، چې مقصد یې د ښار د کلابندۍ ماتول او خوست ښاریانو ته د خوراکي توکو، دردملو او تېلو رسول وو.

په لومړیو کې د دغو سیمو اوضاع ښه وڅېړل شوه او په افغانستان کې د څلوېښتم لښکر د سر غړي یې له نږدې لیدلو ته راغلل؛ بیا پرېکړه وشوه چې عملیات به په نوېمبر کې پیلېږي.

موږ پوره چمتووالی ونیوه؛ ځکه چې موږ هم استول کېدو او د دغو عملیاتو اهمیت له دې نه معلومېده چې بارېس ګرماوف (چې په افغانستان کې د شوروي ځواکونو





له سر، سر جنرالانو څخه وو.) د دغو عملیاتو مشر قومندان او لارښوونکی وټاکل شو. برابر قد، شنې سترګې او سور ګرد مخ یې لاره. هغه له ډېرو ښو هیلو سره وړاندې ته. ډېر ځله یې وغوښتل چې د ځدرانو قوم له مشرانو او په خاصه توګه له جلال الدین حقاني سره مخامخ خبرې وکړي او په دې سره صلاح شي چې بې له تاوتریخوالي په خوراکي او نورو حیاتي توکو بار لارۍ خوست ته پرېږدي؛ خو ځدرانو له شورویانو سره له ملاقات کرکه لرله. داسې پتېیل شوې وه چې خوست ته د دردملو، خوړو او تېلو د رسولو د لارو له خلاصولو او پاکولو وروسته به شوروی قطعې بېرته خپلو ځایونو ته ستنېږي او د لارو حفاظت افغاني لوري ته سپارل کېږي.د نوېمبر په دوه ویشتمه ټول پوځي قطعات تیار شول. زموږ مشرانو بیا هم له ځدرانو سره د خبرو کولو هڅه وکړه؛ خو پایله پخوانۍ وه. د نوېمبر په درویشتمه عملیات عملاً پیل شول. د (۱۰۳) نمبر هوايي کومېنډو قطعې هغه لارې بمبار کړې، چې ځدرانو آشرارو ته پرې امکانات رسېدل. په دې ډول یې نو د هغوی اړیکه له خپلو زېرمو سره پرې کړه. موږ پلي وو او تر ټولو وړاندې روان وو.

د ستو غابني نیول؛ دا زموږ په غاړه وو، له هوا نه مو هم مرسته کېده.
باید ووایم چې (۱۰۳) نمبر هوايي ډلې، چې مشري یې د پاول سرګییوچ ګراچوف په غاړه وه، په ډېر صادقانه او نه ستړي کېدونکي ډول کار کاوه.

موږ د بنوزیو، زاهو او درې په لاره ستو غابني ته پورته کېدو. موږ همدلته په لومړیو کې له مقاومت سره مخ کېدو، همدلته وپوهېدم چې ډېر ژر به جګړه د ښار په منځ کې هم شروع شي.

...موږ روان وو، د یوه سېلاب په څېر مخ ته تلو. دا دجګړې سره کرښه وه. دښمن تل په کمین کې ناست وو او موږ یې له ستونزو سره مخ کولو. باید ووایم چې دا جګړه زما لپاره تر هغو ټولو حیرانوونکې هغه وه، چې په افغانستان کې مې ترسره کړې وې. موږ ته امرونه راتلل او موږ بیا په خپلو پوځیانو زور راوړو. زما پوځیان لکه د هر کله په څېر له روحي پلوه جګړې ته نه وو آماده. هغوی هیڅکله هم له خپلو مشرانو فزیکي ترحم نشو غوښتلی. زړه نا زړه روان وو او په هغه څه مو فکر کاوه، چې په وړاندې مو وو. موږ نه پوهېدو چې څه راته په تمه دي؛ خو دومره مو احساسوله چې بریا زموږ ده؛ ځکه چې شوروي مشران ډېر له زړه لګیا وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نومبر په درویشتمه ماښام مهال؛ کله چې د بنوزیو له کورونو ورتېر شوو، غره ییزو ساحو ته ورسېدو.(د کردېز ـ خوست عمومي لاره په دغه غونډیو کې تېره ده.) هغلته ناڅاپي په موږ د ډزو باران پیل شو، موږ د سنگر نیولو لپاره ځای ولټاوه، کښتني خوږ ته مو ورټوپ کړل او دفاع مو شروع کړه. تنکي شورویان له دې سره، سره چې له خولو یې بې اختیاره چغې وتلې؛ بیا یې هم په پوره شجاعت سره جگړه کوله او په تېره بیا، کله یې چې ولیدل آشرار یو په بل پسې په مځکه لوېږي او سپین کالي یې د گوند د بیرغ په رنگ رنگېږي؛ نور هم زړور کېدل او د رواني جگړې پله زموږ په لور درنېده.

تقریباً دوه ساعته جگړه روانه وه. وروسته د دښمن ډزونه کرار شول. دا مهال تیاره وه. موږ غوښتل له آشرارو پاتې غنایم تر لاسه کړو؛ خو په غونډیو او درو کې له کرل شویو ماینونو ډارېدو. موږ ته د سر زیان کم اوښتی وو، څه عسکر چې ټپیان وو، نظامي ډاکټرانو ورسره مرسته کوله.

مهمه ده چې ووایم؛ ملگری سرگي یوتیکوف هم په همدغه افتتاحي جگړه کې ووژل شو. له مړینې وړاندې، کله مو چې سگرېټ څکاوه او بل اور ته مو هڅونه کړمول، ویې ویل: قومندانه، زه د افغانانو په وژلو سره خپل روح ته آرامي نشم بخښلی. موږ د یرغلگرو پېښې کوو!

زه غلی پاتې شوی وم او له سگرېټ نه مې یوه لویه لوخړه ویستې وه؛ بیا وروسته زموږ عسکرو د هغه مړی پیدا کړی وو، سینې ته څو واره په چاقو وهل شوی وو. زه نه غواړم په دې اړه نورې خبرې وکړم؛ خو دومره باید ووایم چې هغه هم له هغو کسانو څخه وو چې شرعه یې په څلور کې یوه وه.

موږ تلو، د شپې د تلو اجازه نه وه، سپېده داغ مهال به روانېدو او هر سپېده داغ به په ډزو پیلېده. موږ ته افغاني ملگرو پوښښ راکاوه او تل یې د کلکو ملگرو په څېر چلند کاوه. په نوبتي ډول مو د شپې خوب کاوه؛ خو د هیچا بانه هم نه سره ورتلل. تول له یو ډول





سخت ذهني حالت سره مخ وو. د ورځې به له دې سره، سره چې په خړو یو په بل پسې پرتو غونډیو کې خطرونه راته متوجه وو؛ دوی له بې خوبۍ زنگېدل؛ آن کله، کله خو به زما زنگنونه هم ولړزېدل؛ څه مو کړي وی، جگړه وه. د شپې مو د تلو اجازه نه لرله او د ورځې به په هغو لارو تلو چې ډاډه به شوو، له ماینونو پاکې دي. موږ ته فېلټر کوونکي ویل کېدل او باید شا ته ځای مو صیقل شوی پرې ایښی وی؛ همدغه ډول مو کول، ډېر په احتیاط تلو. توله ورځ مو هم مزل نه کاوه.

موږ د یوه داسې غاښې د نیولو لپاره روان وو چې په حقیقت کې یوه بلا وه او آشرارو ترې د یوه لوی محاربوي مرکز په څېر کار اخیسته او باید سخته ساتنه یې هم ترې کړې وی.

زموږ قومندانانو د جگړې په دې سختو حالاتو کې هم غوښتې وو، له ځدرانو مشرانو سره د ښار د کلابندۍ د سوله ییزې ماتېدنې په اړه خبرې وکړي؛ خو هغوی جگړه غوښته.

هوایي (۱۰۳) نمبر فرقې گوزارونه سخت کړل او د آشرارو د تمرکز ځایونه یې سخت، سخت وویشتل. موږ هم د ورځې دمه پرېښوده او جگړه مو سخته کړه. هڅو مو نتیجه ورکړه او د نومبر په اته ویشتمه مو د شپږ ورځنۍ سختې جگړې وروسته د ستو غاښې د مازدیگر په شاعرانه موسم کې لاسته راووړ. په ریښتیا سره د ستو غاښې یوه ښکلې منظره جوړوله؛ خو اوس د جگړې اور سوځولې وه، کوم لور ته به دې چې وکتل، د جگړې کیسه یې کوله. شنې ونې په اور کې سوځېدې او هر ځای مړي پراته وو. هغلته یو بل ډول حالت وو، په غرونو لړې خپرې وې او موږ له لوړو څوکو د لاندې درو ننداره کوله.

موږ په کمو تلفاتو دغه غاښی تر لاسه کړ؛ خو بیا هم آشرارو د لارې په اوږدو کې په غیر پوځي سامانونو بار لاریو ته خنډونه جوړول؛ دا پېښې دومره ارزښتمندې شوې چې له کابل نه د افغانستان د جمهور رییس ځانگړی آستازی، بزمي او انقلابي شاعر سلیمان لایق هم هغه ځای ته راغی او له ځدرانو سره یې د سوله ییزو خبرو هڅه وکړه؛ نتیجه هماغه پخوانۍ وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۸۸ کال د پیلېدو نه یوه ورځ مخکې، یعنې د ستو د غاښي له نیولو څه د پاسه یوه میاشت وروسته مو سرک له ماینونو او چاودېدونکو توکو پاک کړ او له مالونو بار لومړنی لاری پرې وخوځېدې. موږ له موټر چلوونکو سره د ستو د غاښي په سر ولیدل، هغوی موږ ته لاسونه ښورول او په شونډو یې مسکاوې خپرې وې. موږ هغوی ته ویلي وو: د بېرته ښه راستنېدو په هیله!

په دغو لاریو کې د بار شیانو ډېره برخه د خوراکي شیانو وه. د جنوری په نولسمه وروستی لاری هم له کلابندی نه د ژغورل شوي ښار (خوست) نه بېرته تشه راستنه شوه. په دغو شلو ورځو کې تقریباً څلرویشت زره ټنه توکي خوست ته لېږدول شوي وو.

موږ د جنوری په شلمه له جګړه ییزو ساحو وتل پیل کړل؛ ځکه زموږ کار هلته نور ختم شوی وو.

ما ته له دغې جګړې نه د لاسته راغلو غنایمو په اړه معلومات نشته؛ خو په عموماً کې له هغو غنایمو زیات وو چې پخوا مو تر لاسه کړي وو.

زموږ دغې سترې بریا سخت دریځي آشرار ناهیلي کړل او ټولې هیلې یې په اوبو ورلاهو کړې. له ډېرو سختو او پېچلو پلانونو سره یې بیا هم د بریدونو هڅه وکړه؛ خو تل ناکام او ناهیلي شول، بری زموږ په برخه وو او نور د آشرارو له لاسونو د ستو غاښی وتلی وو.

په دغه جګړه کې د سخت زیار له امله ستر جنرال وارینیکوف، بارېس ګرماوف او ځینو نورو عسکرو او افسرانو ته د شوروي اتحاد د آتلولۍ لقبونه ورکړل شول. موږ بېرته بریالي تر خپل آستوګنځي راستانه شوي وو. د خپلې ډلې د څلورو عسکرو په مړینه خپه وم. مړي مو په خلتو کې بند کړل او کابل ته مو ولېږل؛ له هغه ځای نه به خامخا خپلو کورونو ته لېږدول شوي وو. د کورنیو غړو به یې خامخا مړي په ناڅاپي ډول لیدلي وي او ژړلي به یې وي.





زموږ مشران نور له دې سترې شوي وو چې په افغانستان کې پاتې کېدلو ته دلایل ولټوي. دوی دلته دا خبره مناسبه وګڼله چې ووایي: موږ نور وځو!
که څه هم د شوروي د شهرت سرو څپو ته ګواښونه او ننګونې متوجې وې؛ خو هیڅکله هم موږ ته زموږ له ژونده بل مهم شی نه وو. افغانستان څه، چې آن ټوله نړۍ په دې نه ارزېده چې زموږ او نورو شورویو عسکرو ژوند ته دې خطر پېښ وي او تل دې وینه بهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوښيار اوسئ، موږ وځو !

آن له پيله، کله چې مېخايل ګرباچوف رهبر شو، فکر يې وکړ چې شوروی مړی له افغانانو سره نيمېږي. د شورويانو د مرګ د خبرونو اورېدل ګران شول او نه يې شول کولی ورې افغانان ماړه کړي. افغان کشالې ته يې (چې د ټوپک له لارې يې حل ګران وو.) نورې لارې ولټولې. هيڅ شي نتيجه نه ورکوله. هغه بايد لږ تر لږه خپل شورويان ژغورلي وی.

بايد ووايم چې په افغانستان کې وروستۍ شوروی جګړه د (توپان) په نوم ونومول شوه. دا هم بايد پټه نشي چې د نهو کالو د جګړې د تاوانونو او تلفاتو زور موږ شورويانو همدلته وويست. يواځې په دغو څو ورځو کې هوايي څواکونو له زرو زياتې آلوتنې وکړې او سلو ته نږدې کلکې او زبان اړوونکې بمبارۍ وشوې. دغه عمليات د هيواد په تقريباً ټولو برخو کې وو؛ خو په مرکزي او شمالي برخو ډېر زور راوستل شوی وو؛ ځکه په دغو لارو موږ تلو.

د ۱۹۸۸ کال د اپرېل په څوارلسمه د افغانستان، پاکستان، شوروي اتحاد او امريکا د متحده ايالاتونو د بهرنيو چارو وزيرانو د افغانستان د شاوخوا حالاتو د سياسي هوارۍ په هکله په ژنيو کې پنځه سندونه لاسليک کړل. د دغو تړونونو سره سم، چې يوه مياشت وروسته نافذېدل؛ بايد موږ د نهو مياشتو په دوران کې افغانستان پرې ايښی وی.

له افغانستان نه پخوا هم وخت په وخت زموږ پوځي ډلګۍ وتلې وې. د لومړۍ وتنې نېټه د ۱۹۸۰ دوبی وو، چې د ټانګ څو غونډونه او څو پلې او هوايي فرقې پکې شاملې وې.
د ژنيو د تړونونو په آساس د شورويانو عسکر بايد د ۱۹۸۹ کال د فبرورۍ تر پنځلسمې د افغانستان له خاورې وتلي وی.

له افغانستان نه وتل په درېيو پړاوونو مشتمل وو؛ لومړی پړاو چې په ۱۹۸۶ کال پورې تړلی وو، شورويانو په دغه کال کې له افغانستان نه شپږ جګړه ييزې قطعې وباسلې. دوهم پړاو د ۱۹۸۸ کال د مې مياشت څخه په پام کې نيول شوی وو او آخرنی پړاو د ۱۹۸۹ د فبرورۍ په پنځلسمه پای ته رسېده او افغانستان عملاً د شورويانو له لاسه ووت.





زموږ د وتلو لپاره هغه لارې انتخاب شوې وې، چې پرې راغلي وو. د افغانستان له ګوټ، ګوټ نه شورويان رالوټېدل او کابل ته يې ځانونه رارسول، له هغه ځای نه بيا د سالنګ د مرګوني غاښې په لور پلخمري ته اوښتو او بيا سرحدونو ته رسېدو.
زموږ تلل د مې له پنځلسمې نه د آګوسټ تر پنځلسمې پلان شوي وو. ګرانه ده چې سړی ووايي، په داسې وخت کې څوک څنګه احساس لري؟

زه هيڅ نه پوهېدم چې زما له سترګو ولې اوښکې ځي؟ ما افغان ملګري پرېښودل او له هغې خاورې وتلم چې زرګونه خاطرې مې پکې پاتې وې او ځوانکې ملګري مې پکې خاورې شوي وو. ما ته ډېره ګرانه وه، ډېره ګرانه. هغه يو بل ډول حالت وو. شوروي ملګرو فکر کاوه چې خوب وينې. د هغوی له سترګو اوښکې تلې او افغان ملګري يې په غېږ کې نيول. موږ هغوی ته ويل: هوښيار او بيدار اوسئ، موږ له دغې خاورې وځو!

د عسکر مېړانه د هغه د ټوپک په ډزولو او سړي وژنه کې نه معلومېږي، له هغوی سره د خلکو په مينه کې معلومېږي. موږ چې افغانانو په غېږو کې نيولو او لاسونه يې ټينګ راکښېکښل؛ احساس مو کړه چې موږ داسې خاطرې پرې ايښې دي چې خلکو ته يو ښه احساس ورکوي. کله چې يو داسې څوک، چې له تاسو سره يې مذهبي او کلتوري توپيرونه وي. له تا بېلېږي او اوښکې درپسې توېوي؛ نو د مينې، ورورګلوۍ او ښو شيانو احساس کوې!

موږ له افغانستان نه د جګړې په حال کې وتلو او مخالفين هم دغې ته تيار ناست وو، چې هر کله وروستۍ شوروي د افغانستان له پولو واوړي؛ انقلاب به د څو ورځو يا ساعتونو په ترڅ کې له منځه وړسي؛ خو داسې نه وه، موږ او ټولو ليدل چې د افغانستان ډيموکراتيک حکومت د شورويانو له وتلو نه وروسته هم تر ډېرې مودې غځېږي.

همدلته به مناسبه وي چې يادوونه وکړم چې د ۱۹۸۸ کال په پای کې رهبر نجيب الله د شوروي له مشرانو څخه څو ځله غوښتنه وکړه، چې د کابل ــ حيرتان د لارو په اوږدو کې دوه فرقې عسکر پرېږدي، چې شمېر يې له (۲۰۰۰۰) اوښته؛ خو نور موږ نشول کولی د افغانستان په وژنتون کې خپل ملګري پرېږدو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغانستانه مونږ نور لاړو !

نه پوهېدم چې افغان ملګرو څه غوښتنه لرله، د هغوی له سترګو غرور کډه کړې وه او يواځې يې د خواست په ډول يو پلو، بل پلو اړولې. هغوی په خپلو زړو او خيرنو بالاپوښونو کې (چې زموږ شورويانو ورکړي وو.) لاسونه منډلي وو او هڅه يې کوله چې عادي واوسيږي.

آن يوه افغان چې غاړه رانه تاو کړه، وپوهېدم چې ژاړي؛ خو اوښکې يې پټولې؛ ځکه هغوی ويل(اوښکې له سړي سره ښې نه ښکاري.) هغه نشول کولی ځان عادي وساتي، وجود يې په ما راتکيه کړی وو. ښه شو، ژر جلا شو، کنه نو زما له سترګو به هم اوښکو لارې جوړې کړې وې، کله چې جلا شوم، زما په اوږو يې لاسونه راکښېښودل او بيا يې په داسې حال کې چې ستونی يې له سلګيو ډک وو، د ماشومانو په څېر په ګډه وډه روسی ژبه وويل: تاسو به موږ يادوئ کنه؟!

ما نور نشول کولی ځان ټينګ کړم، مخ مې ترې واړاوه او په ډېر زيار مې وويل: هو!
...او لاړو. کابل ته ورسېدو او هلته په منظم ډول د سالنګ د غاښي په لور روان شوو. زموږ د لارې امنيت زموږ د مشرانو لخوا تضمين شوی وو؛ خو بيا هم په لاره کې د مسعود له ټولګيو ډارېدو.

له دې سره، سره چې زموږ پوځيانو له افغانستان نه د وتلو په وخت له سترګو اوښکې تويولې؛ خپلو ماشو ته هم متوجه وو. د افغانستان په خاوره زموږ د موټرو وروستي ځل ټايرونه تاوېدل او په زرګونه خاطرې مو هغلته پرېښودې. ما ته د افغانانو هغه خبرې په وار وار يادېدې چې ويل يې: تاسو له موږ ښې خاطرې لرئ کنه؟ موږ به يادوئ؟

هو! که څه هم دا زموږ لپاره داسې جګړه نه وه چې په اړه يې کيسې وليکل شي؛ خو بيا به هم د افغان ملګرو مينه، ورورګلوي او وفاداري يادوو.





کېدی شي زموږ ډېر پوځيان د خپلو شخصيتونو شاعرانه اړخ ته همدا اوس متوجه شوي وي. هغه چا چې په لنډو بحراني شپو کې يې ټوپکې ډزولې او وېرووونکي خوبونه يې ليدل؛ اوس يې سلګۍ وهلې او سترګې يې لمدې وې؛ هيڅ نه پوهېدو چې ولې؟
آيا يو څوک چې له مرګه ژغورل کېږي، بيا هم خپه وي؟ هيڅ صبرناکه زړه د دغې صحنې د زغم توان نه لاره. موږ، چې څو کاله وړاندې په دې لاره افغانستان ته راننوتو او اوس بېرته پرې تلو؛ هيڅ پرمختګ يې نه وو کړی، بلکې نوره هم جنګ ځپلې او خړه ښکارېده. هر څه د جګړې کيسه کوله.

موږ ورو تلو. هر څنګه چې وو، خو موږ ټولو دا احساس کاوه چې يو شی مو ورک کړی دی. په ځينو ځايونو کې عامو افغانانو د مخه ښې لپاره لاسونه راته ښورول او په سترګو کې يې اوښکې رغړېدې، نه پوهېدو ولې؟

آيا دا هغه خلک نه وو چې په موږ پسې يې چغې وهلې (زموږ له هيواده ووځئ!)؟ وو؛ خو اوس زموږ وتل يقيني وو، ځکه.
موږ له پولې هاخوا زموږ لپاره د جوړو شويو مراسمو په اړه اټکلونه کول او په ذهن کې مو تصور کول. فکر مو کاوه چې ولسمشر ګرباچوف به پخپله هلته راځي . که نه وي لږ تر لږه د دفاع وزير او د (کې، جي، بي) رييس خو به خامخا زموږ ښه راغلاست ته راځي؛ خو دا هسې عبث فکر وو. هيڅ داسې نه ښکارېده چې افغانستان ته د لېږلو پرېکړه دې دوی کړې وي. آيا موږ ځان ته په خپله مراسم جوړ کړي وی؟

موږ خو د هغو کسانو له ډلې څخه نه وو چې خلکو ته مو ويل (د سر په بيه وجنګېږئ!)
دا د شوروي د رهبرۍ تر ټولو لويه بې نزاکتي وه او په زغرده بايد ووايم چې دا د هغو پوځيانو آرواوو ته سپکاوی وو چې په افغانستان کې يې د دوی په امر خپلې سينې د انقلاب او شوروي بيرغ دفاع ته سپر کړې وې. بايد ووايم چې د ګوند د مشرتابه په سلوک خپه وم.

موږ ماښام ناوخته مزار شريف ته ورسېدو. شپې مو بايد دمه کړې وی. موږ د امنيت لپاره پيرې ودرولې، عسکر هره خوا خپاره وو او په افغانستان کې يې خپل وروستی ماښام لمانځه. کاشکې هره ورځ له افغانستان نه د وتلو ورځ وی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور له پخوا لا ډېر د مينې او وروركلوۍ احساس كاوه. د ماښام ډوډۍ مو وخوړه او بيا هغو ځايونو ته ستانه شوو چې راته تيار شوي وو، ساده.

تر ډېره په خپل ځای کې پروت وم او خوب نه راته. په خپل راتلونکي مې فکر کاوه. فکر مې کاوه چې نورې جګړه پېژي ورځې او ډارونکې شپې پای ته ورسېدې؛ ځکه ډېر وخت وروسته مې په ذهن کې د مور، پلار او آيوانکې په اړه راوګرځېدل، څه ښه مراسم به يې راته نيولي وي! که هر څه وي، لږ تر لږه خو يې زوی ژوندی راستون شو. آيوانکې ته خو هسې هم خجل وم؛ خو پوهېدم چې هغه داسې جلۍ نه ده چې غرور مې راووژني.

ډېر وخت وروسته به هغه څوک ووينم، چې د ټوپک په ډزولو او د جګړې په ډګر کې مې هم نه هېرېدله او له هر ښکلي احساس سره موازي فکر ته راتله.
ما په تېر فکر نه کاوه؛ ځکه ځورونکی وو. تېر ځورونکی وو او راتلونکی نامعلوم، يعنې ماتې.

د نابللو مېلمنو په څېر مې ذهن په تېر کې ښکېلېده. هغه عسکر رايادېدل چې په افغانستان کې تر خاورو لاندې شول. بايد په وياړ، او د احترام لپاره يې مجسمې جوړې شي.
له دومره بوخت ذهن سره ويده شوی وم...

***

سهار وختي پاڅېدو، لمر راختلو ته لا ډېر وخت پاتې وو. فکر مې وکړ چې ټولو عسکرو زما په ډول شپه تېره کړې ده. خړه مځکه او شين پوښي عسکر. عسکرو خندل، ټوکې يې کولې او سندرې يې بللې، ډېری عسکرو خپل کميسونه هم مينځلي وو او په ګاډو او خېمو يې غوړولي وو. ټول خوشحاله وو؛ ځکه هغې خاورې ته اوښتل چې پکې پيدا شوي وو او د ژوند خواږه وختونه يې پکې تېر کړي وو.

زه پخپلو عسکرو وګرځېدم. ټول خوشحاله وو او په ناکرارۍ يې اوښتلو ته انتظار باسه.





لس بجې مونږ تللو ته تيار شوو، زمونږ ګاډی په منځ کې وو. کله چې موټر ته له خپلو ملګرو سره وختم، په ټولو عسکرو مې يو نظر تېر کړ او فکر مې وکړ چې زمونږ دغه ملګري به بيا هيڅکله په دې ډول سره يو ځای نه شي؛ ځکه هغوی شوروي ته له رسېدو سره سم سره پاشل کېږي او بېرته هغو ځايونو ته ستنېږي چې ترې راغلي وو.

قطار وخوځېد، ورسره د شورويانو ملګرو د خوشحاليو چغې هم پورته شوې، موټر کرار تلل او زما زړه په ناکرارۍ ټوپونه وهل. مونږ سرحد ته نږدې کېدو او هر څومره چې ورنږدې کېدو؛ زړونه مو نرم کېدل او له سترګو مو اوښکې تويېدې؛ ځکه مونږ بېرته بيا افغانستان ته نه راتلو او هغه مو د تل لپاره پرېښوده. مونږ خو له افغانستان نه ووتو، خپل امن هيواد ته ستانه شوو، د افغان ملګرو خو د تېښتې لاره هم نشته. هغوی به له هغې بلا سره جګړه کوي.

افغانستان او شوروي د يوه پله په آساس سره جلا کېدل، د دوستۍ پُل، چې مونږ جوړ کړی وو. هر موټر ته مو ډېره فاصله ورکوله، تر څو بې تکليفه له پله تېر شي. له پله نه هغه غاړه د شوروي سرحديان ولاړ وو او مونږ ته يې هرکلی وايه. د پله په سر باندې يواځې زمونږ پوځي موټرونه روان وو. لږ لرې خبريالان او ډېر ګڼ شمېر خلک زمونږ هرکلي ته راټول شوي وو. دا دومره ګڼ شمېر وو چې زما په فکر کې هم نه وو، زه له موټره راکښته شوم او پلی روان شوم. خلکو په لاسونو کې ګلان نيولي وو او زمونږ وررسېدو ته يې انتظار ويست. د عسکرو د کورنيو غړي او خپلوان راغلي وو. کېدی شي هغه خلک هم راغلي وو چې خپلوان يې په جګړو کې مړه شوي وو؛ خو هغوی مونږ هم زامن بللو.

کله چې له پله ورتېر شوم او په بشپړ ډول له افغانستان نه راووتم؛ شا ته مې راوکتل، غم لړلی افغانستان(چې جګړه يې تل په برخليک کې وه.) شا ته پاتې وو او د جګړې لوګي يې رنګ ورسوځولی وو. لاس مې ورته وښوراوه او کېدی شي په غرېو کې مې ويلي وي: افغانستانه، مونږ نور ولاړو...

له خپلو موټرو سره روان وو او د هغه خلکو په لوري ورنږدې کېدو چې غېږې او لاسونه يې له ګلانو ډک وو. بايد ووايم چې مونږ ته د ترمز په پوځي تعليمي مرکز کې ښه مېلمستيا جوړه شوې وه او بغير له شرابو پکې هر ډول خواړه موجود وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ قومندانان له خبريالانو سره په مرکو بوخت شول. (څه احساس لرئ؟ د غبرګونونو په اړه څه وړاندوینه کوئ؟ د نورو پوځيانو په اړه څه وايئ چې هلته پاتې دي؟....)

خبريالانو، لکه وږي چې توده ډوډۍ موندلي وي، هره خوا ځغلېدل او دا تاريخي صحنې يې نيولې. کله مې چې هر کلي کوونکو ته نظر وکړ؛ نو فکر کووم تر ټولو لومړی مې آیوانکه په نظر راغله، په لاس کې يې ګلان نيولي وو او خلاصه غېږه يې زما په لوري منډې راوهلې، د ماشومانو په څېر يې لاسونه رانه تاو کړل او غېږې ته يې ځان راواچاوه. هغې ژړل...

له هغې سره مې تېرې کړې ټولې ورځې د يوه خواږه خوب په ډول د هغې په لمس کولو تر تصوره تېرې شوې او فکر مې وکړ، چې کېدی شي د ټولې نړۍ خوشبخته شخص زه یم. له يوه پلوه زما لپاره جګړه پای ته ورسېده او له بله پلوه مې د شوروي سره هوا او د آیوانکې دعطرو خوشبويي تنفس کوله. په دې نازکو شېبو کې مې هغې ته په ژړا کې ويلي وو: تا ريښتيا ويلي وو، موږ مات شوو، زه تېښتې سر او تش لاس راستون شوم، زما لاسونه د افغانانو په وينو سره دي. تا ريښتيا ويلي وو...

هغې هيڅ آرامي نلرله او پرلپسې يې ژړل، نه يې غوښتل ما له ځانه بېل کړي؛ خو په زوره مې له ځانه بېله کړه او سترګو ته مې يې وروکتل. ما پخوا هيڅکله هم د هغې سترګو ته دومره له نږدې نه وو ورليدلي، هغې شنو ته نږدې خړې سترګې لرلې، بې واره اوښکې ترې راروانې وې او شونډې يې لړزېدې. په داسې حال کې چې په خپله مې هم ژړل، ومې ويل: يوه پوځۍ بايد ونه ژاړي!

بيا لږه غلې شوه او موږ د يو بل د اوښکو په پاکولو بوخت شوو. هغه لګيا وه او ما ته د ډاډ راکولو لپاره يې په ډک ستوني ويل: موږ به ژمنه وکړو چې په تېر به نه غږېږو!

بيا هغې خپل سر زما په اوږه ايښی وو او د هرکلي کوونکو په منځ کې(چې شور او ځوږ يې غوږونه کڼول.) وړاندې روان وو.

هيڅ يوه شوروي نه غوښتل آن يو لحظه شا ته وګوري او بيا د هغه څه په باره کې فکر وکړي چې په افغانستان کې تېر شوي؛ ځکه چې (افغانستان) نور د هغوی لپاره پای ته رسېدلی وو. ميندو په غېږو کې خپل زامن نيول او په سلګيو کې يې ورته ويل: (بيا مه ځئ!)





د هر کلي کوونکو په منځ کې مې په مور او پلار او کشرانو وروڼو سترګې ولګېدلې، چې زموږ په لور په تېزو، تېزو ګامونو راروان وو، هغوی ټولو نوي کالي اغوستي وو او غېږې يې له ګلانو ډکې وې. د مور او پلار په سترګو عينکو د هغوی د سترګو د ناجوړۍ خبره کوله. په دې نازکو شېبو کې مې آيوانکه په غېږ کې نيولې وه؛ خو د هغې د ښکلولو هڅه مې نه وه کړې.

# پای

پکتيا، مرکز ګردېز، د دولتزيو د غونډۍ کلی
۱۳۹۹ ورى، نهه ويشتمه
۰۵:۳۴
مازديګر

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**